له هغې ورځې نه چې د خراسان اولنۍ سیمې لکه باندر، نازیان،کوټ، ګورګورۍ، اغز، مامند او کڅو، پیښه، عدل خیل وغیره الله موږ ته د یوي اوږدې مبارکې غزوې او د ځوانانو د قربانیو په نتیجه کې د الله سبحانه وتعالی د خاص مدد څخه وروسته راکړې نو دشمن نه د قرار ځای ورک شو، ننګرهار کې د طالبانو ارامګاه(مامند)هم ددوی له لاسه وتلی و، شپه او ورځ د اسلامي دولت د له منځه وړلو په پار یې دشمن په پاکستان او کابل کې د پردې شاته شریک میټنګونه روان کړي و، طالب کرایي جګړمار په آی ایس آی زړه اطمنان ونکړ دلته یې د خپل اولني بادار(پاکستان) د تربور (افغانستان) حکومت سره هم زموږ د له منځه وړلو سلا مشورې وکړې امریکایانو ورسره د جنګ په میدان کې د هوایي ځواک په مټ ملتیا وکړه د قومونو ملکان یواځیني هغه خلک وو چې د خپلو کشرانو په جلب جذب کې لالهانده او سرګردانه ګرځیدل ترڅو زموږ په خلاف خپلې شومو کړنو ته لاس واچوي، د دشمن منظم انسجام شروع و، د اسلحو او افرادو کمبود یې نه و، داخل د تمکین په خاوره کې پاتې عوامو سره یې مکمل همغږي وه ، حتی ځینو عوامو چې اسلحه ورته نه وه رسیدلې نو زموږ په خلاف یې د تبرګې او چړې نه استفاده وکړه، بیاهم خلک وایي خلافت خلک په ماینونو کینول او د اسمان تاریکو ته یې جیګ کړل، او شوي جرمونه ورته جرمونه نه ښکاري، زموږ وینه ورته لیلام ښکاري، زموږ عزتونه ورته عزت نه ښکاري، زموږ د قدر وړ هستی ورته فقط تروریستان ښکاریدل، او کرایي جګړمار ورته بیا باتوران تورزن حقبین او دعزت خلک ښکاریدل، خپل ژوند ورته مهم ښکاریده او دا هرڅه یې د جنګ په لومړي ځل رابښکاره شو،

کیسه یې زیاته له درده ډکه ده، زیات خلک به هم ترینه پوره نه وي خبر.

کله چې د اچین ولسوالۍ په مامند سیمه د دشمن لخوا حمله کیده نو پوره ځواک یې ملتیا کوله آی ایس آی او افغاني مرتدو یې دروند قیمت ورکاوه، د امریکایي داړه مارو چې څه پّ وسه کې و دریغ یې ونه کړ .

د رمضان مبارکه میاشت وه مهاجرین ملګري په هغه وخت کې اکثر د باجوړ او اورکزیو د ایجنسو سرښندونکي غازیان و، افغاني مهاجرین هم یکې د ګوتو په شمار و، زیاترو خلکو بیعتونه کړي و، بېرته واپس تللي و.

په مامند له جګړې لږه موده مخکې دا خبرونه هم راغلل چې طالبان د تورخم او ریناو پارچاو له لارې په ګڼ تعداد کې راروان دي او د غني خیلو ولسوالۍ په مختلفو ساحو کې ځای پرځای کیږي، او د کوم جنګ پلان لري، ملګري مې راته زنګ وواهه چې والکه طالبانو کې ځینې کسان زه پیژنم چې ټول عمر پاکستان کې وي خو هغوی نه خبر شوی یم دلته راغلي دي خپله تابیه ونیسئ ،ماته حالات ښه نه را معلومیږي ،خو اکثر وخت مجاهدین دومره غافل شي چې فقط د توکل نه بل شی نه پیژني او دا یې د اخلاص او بهادرۍ اخیري درجه وي، نو دغو شپو کې حافظ صیب هم ګورګورۍ طرف ته تللی و، هلته و، نور هغه وخت هم را ورسیده چې دشمن حمله شروع کړه د غني خیلو، سیاچوب ، میدانک، ګردي،پیښې خوړ، ده سرک، او د نازیانو له لورې او د پچیر له لورې یو ناڅاپه برید جریان پیدا کړ او هم مهاله د مامند ځایي پاڅونوالو هم لور او تبرګو ته لاس کړ هرې خوا جګړه شروع شوه، هیڅ کور په امن پاتې نشو هیڅ غر او بوټی، او تیګه په امن پاتې نه شول، د خطونو له لارې طالبانو حمله وکړه په داخل کې پاڅونخیل راپورته شو او نه جبرانیدونکې کړنې یې ترسره کړې چې په یاد یې زموږ زړه اوس هم زرې زرې شي، او په هوا کې د امریکا ډرونډ بمبار روان وو،زیاته سخته صحنه وه چې مجاهدینو پسې کور په کور پاڅونخیل راپورته شو د عفیفو خویندو له غاړو یې طلاوې وشوکولې ، په کورونو کې یې ورته هر قیمت بیه شي پرینښود، زنانه یې او هغه عمر تیر سپین ږیري مجاهدین چې د جنګ توانایي یې هم نه درلوده او فقط کورونو کې د خویندو د اطمنان لپاره پاتې و، هغه یې هم په تبرګو ووهل شهیدان یې کړل خویندې بې سرپرسته یو خوا او بل خوا تیت پرک شوې، د یوجوړ کالیو سره له کورونو ووتلې ماشومان نار نهور زنانه روژه په خوله سرګردانې ګرځیدلې چې اوس چیرته لاړ شو، سرپنا مو نشته ،خپل او خپلوان هم نلرو، اخر چیرته لاړ شو، ځوانان غرونو ته اوچت شو هلته وریسې هرکانې او بوټي بمبار شو،هیچا لپاره هیڅ د سر سیورۍ نه و، بغیر له دینه چې جنګ ته مخکې شي او شهید شي، مجاهدین د تختو په لور لاړل آن تر مورګۍ ورسیدل خوراک یې د سپین غر د واورو یخې اوبه

او د غره شنه وابښه و،له بل پلوه په ګورګوري هم جنګ شروع شو اغز کې هم جنګ شروع و، کڅو کې د خنګې سر کې هم مجاهدینو کمین وخوړ، که مو یاد شي چې د مامند د خنګې څخه به چې د کڅو په لور تلې او په اوچت کنډو کې کوم قبرونه و، نودا هغه زلمیان و چې د یو کمین په ترڅ کې شهیدان شو ي و.

اه الله هغوی هم مور او پلار لرل، هغوی بچې او ښځې هم درلودې، هغوی ډیره ښایسته زنده ګي هم لرله، د ښایسته ځوانیو درلودونکي و ، ربه ستا در ته درغلل، اوس هم خلک وایي خلافت ظلم وکړ ، موږ ورته اوبو راوړي ښکارو،ته به وایې چې دوی له موره او پلاره پیدا دي او موږ چیرته کومه کمپنۍ جوړ شوی یو، زموږ د مهربانۍ مینې او دوی ته د خدمتونو بدل موږ ته دوی زموږ د زنانه و په بې عزتۍ او د سپن ږیرو په تبرونو وهلو راکړ!!!!

کیسه اوږده او له درده ډکه ده خو اخر داچې د مجاهدینو مسکن غر او سمڅه شو، دکورنیو نه مکمل ناخبره و، هرڅوک خپل غم کې ډوب و، بل خواته معصومو او عفیفو خویندو څخه لوري لودن ورک و، چې اوس چیرته لاړ شي، دې ظالمانو ورسره دومره ظلم وکړ چې یو ،یو سپین ږیری ورسره و هغه یې ترینه هم په تبرګیو ووهل شهیدان یې کړل، په کور کې قیمتي شیان یې تري لوټ کړل له غارو او غوږونو یې ورته طلاوې راوشکولې ، پیسې یې ترینه هم واخیستې،ځینو مجاهدینو څاروي درلودل هغه یې هم ترینه واخستل ، کومه خه جوړه جامې اوپیزار به یې چې په تن و هغه یې هم ترینه وویستل ، زموږ به دا ورځې چرته هیرې شي اې د مامند او نورو سیمو پاڅونخیلو ، د حساب ورځې لا درسره پاتې دي یو ، یو مو پیژنو .!!!!

نو اوس تاسې وواییځ چې که موږ له تاسو سره دغسې ورته کړنه ترسره کړې وی یا بل چا له تاسو سره دغسې کړنه کړې وی نو تاسو به څه ویلی؟

ایا دغه وخت کې به موله ژونده خوند اخیستی وی؟

ایا د ځمکې د مخ نه به مو د ځمکې خیټه نه وی غوره کړی؟

ایا یوه لحظه ژوند تیرول به مو په وس او توان کې وی؟

ایا په مقابل کې به تاسو ددغو کړنو مرتکبین په سور اور نه وی غرغره کړي؟ د اوسپنو په ګرمو سیخانو به مو نه وی سوري کړي؟

ایا تاسو به ددغو خلکو په کورنیو کې قتل عام نه وی کړی؟

خو موږ چې د خپلو معصومو خویندو او ماشومانو د انتقام لپاره متې را ونغښتې نو دومره مو وکړل چې فقط مشران مو ورله په ورو، ورو ماینونو کینول، قتل عام مو پکې ونکړ، اکثرو کشرانو ته مو د تیښتې لار پریښوده موږ یې ښځې ونه لوټلې، په تبرګیو مو ونه وهل د تن جامې مو ترینه وانه خیستې،له پښو مو ورته پایزار ونه ویستل، حالانکې دا او ددینه زیات یې موږ سره کړي و.

زموږ دین د عدل او انصاف دین دی،او موږ په ریښینولی ځانونه د دغه دین حامیان بولو نو موږ هر هغه څه یې په بدل کې وکړل چې موږ ته خپل پاک سپیڅلي دین اسلام یې اجازه راکړې، او لا ددغو معصومو وینو پور دغو خلکو ندی اداء کړی، او لا ورسره زموږ د ډیرو وینو حسابي پرته ده ، خو هیره مو نه ده، او انتقام یې پای نه لري، نو ددغو خاینانو په شمول دې هر غدار اګاه اوسي ان شآءالله تعالی.

شپږمه پوښتنه :

رښتیا هم ډیري دردونکي صحنې او ترخې خاطرې وې ، الله عزوجل دې مجاهدینو ته اجرونه او عاملینو ته یې عذابونه ورکړي ، خه ورروه که دا راته وواییې چې په تمکین په لسګونو ځل لوی او واړه بریدونه وشول خو بیآ هم د ټولې نړۍ په وړاندې د اسلامي دولت مجاهدین له د فولادي کمرونو په څېر ثابت شول او هر ځل به هره حمله په شا ماتیده ، د تمیکن د ورروستي سقوط علتونه څه و ؟

د شپږمې پوښتنې ځواب : ورروه د تمکین د وروستي سقوط له عواملو مخکې غوارم لکه څنګه چې تاسې ورته اشاره وکړه د امریکایانو افغان حکومت ، پاکستاني حکومت ، ایران او طالب ملیشو په شریکو جګړو لړ وغړیړم یو وخت داسې و چې په کراتو ، دوی شریکې جګړې په لړ کې دوی ماتې وخوړه په دې وروستیو کې چې کله د پاکستان مدرسې موږ سره د جګړې له امله بندې شوې او چرسیان یې جنګ ته را رخصت کړل،له بل پلوه ورته روس او ایران ماډرن اسلحه ورکړه چې هغه وخت یې راپورنه هم رسنیز شول او پاکستان ورته څومیاشتنۍ ټریننګ ورکړ، په شپنیو اسلحو باندې زموږ د جنګ لیکو ته راغلل، چې د امریکا هوایي ځواک او ثقلیې توپخانې یې په پوره پیمانه ملتیا کوله، د افغان خرڅ شوي حکومت ورته هر ځای کې له خپلو امنیتي پوستو پوره د کومک لاړ ورکاوه، هغه لاري او ګودري چې زموږ په مخ له کلونو راهیسې دومره کلکې یې بندې کړې وی چې یو بوجۍ وړه ورباندې هم داخل د تمکین ته نشو را وړل کیدای خو بالعکس د دوی په مخ دغه راز ټولې لارې ګودرې خلاصې وې ، جنګ پوره په میاشتو ، میاشتو جریان وموند تازه راتلونکو مهاجرینو باندې لارې مکمل وتړل شوې ،معسکرات دجنګ په جریان کې تر یو وخت ګرم روان و، خو بیا د نویو مهاجرینو د راتګ د لرې په دریدلو سره هم ساړه شول، ورځ تر بلې مو نظامي تجهیزات په کمیدو و، دبې پیلوټه او جیټ طیارو وهلې ماتې ګوډې اسلحې راپاتې وې، زیاتره وخت به مجاهدینو په همغه اسلحو مجهز کیدل چې د دشمن څخه به تازه په جنګ کې نیول شوې وي،او دشمن به د زیاتو جسدونو په پریښودو له سیمې پښې سپکې کړې وي،

کله چې د طالب نوی رهبري امریکا په لاس کې واخیسته او ویې کتل چې زموږبلک واټر د نړیوالو اتلانو د خلافت د زمرو سره په جنګ کې پاتې راغلل، د پاکستان مدرسو په بندولو هم ونشوه ،تر سوات او دیر، باجوړ آن تر صوابۍ پوري مو چې په اشر ورته څومره خلک راجمعه کړل په هغې هم ونشوه،او د ترون د

لاسلیک موده هم نوره په رارسیدو ده نو امریکا د دوی د ترغیب لپاره د تړون لاسلیک موده ورته وغځوله او په ټاکل شوی وخت یې تړون لاسلیک نکړای شو، ځکه د تمکین په سر سودا کې طالب ملیشه ناکامه راغله، د تړون لاسلیک یو شرط دا و، چې ننګرهار اوکنړ کې به د خلافت نظامي حضور په کامله توګه ختمو ي خیر موږ درسره لر او بر ملګري یو هر سنګر او سخته مورچه درته موږ بمبارو، فقط کوردینات راکوئ او تاسو مخکې ځئ، وروره مخکې مې هم دا یادونه وکړه چې تمکین یواځینی هغه خاوره وه چې همیش یې اوسیدونکي د امتحاناتو، کړاونو ، تکلیفونو او ستونزو سره لاس او ګریوان و، ۸۵کفري ممالکو د خلافت په خلاف ائتلاف درلود ، اوس تاسې اورئ چې سره له دې چې دوی د اسلامي دولت د له منځه وړلو دعوې وکړې خو دا ایتلاف یې بیا له سره تازه شو تاسې به د یرغمل شوې اسلامي خاورې، هغه خاورې چې په نوم اوریدو یې د اسلام تیر عظمت د انسان سترګو ته ودریږي(مراکش) کې ددې ایتلاف د غړو کفري هیوادنو مشران راټول شوي او دا ایتلاف بیا له سره تازه کوي ،نو کفارو د خلافت په خلاف د هر څه مرسته کړې او کوي یې، همغه له پیله کفارو هم افغان حکومت او هم د پاکستان په وساطت طالب مشرکین زموږ په مقابل کې تقویه او حمایه کړل ،که څه هم په طالب مشرکینو د جهاد او مجاهدینو نوم پروت و،خو اوس نو ددوی کړنو دا ټولو لویو او وړو ته ثابته کړه چې طالب څوک او د کوم هدف لپاره د چا له لوري حمایه او رهبري کیږي .

طالب لا له وخته د آی ایس آی په وساطت د سي آی ای په مهار کې و، خو کله چې په خراسان کې د اسلامي دولت نفوذ په پراخیدو شو او ټولو لوریو په جلا او جبهي شکل د اسلامي دولت په مقابل کې ماتې وخوړه نو امریکا دې ته اړ شوه چې د اشرف غربي په ځای طالبان مستقیم په واک کې راولي او د اسلامي دولت په خلاف یې تقویه کړي ، امریکا په همدې فکر کې وه او ده چې طالب په اطرافو هم پراخه نفوذ لري او وبه کولای شي چې د اسلامي دولت د مجاهدینو مخه ډب کړي ځکه یې نو د امریکا په تر ټولو ستر استخباراتي مرکز قطر کې طالبانو سره د افغانستان د حکومت د ورتسلیمیدو تړون لاسلیک کړ چې د واک ورسپارلو په مقابل کې به طالب یو کار دا کوي چې د شرعیت په نامه به د دیموکراسۍ یوه نوې بڼه حاکموي او بل به په پوره اخلاص د امریکا په استخباراتي او نظامي حمایه د اسلامي دولت مخه نیسي ، نو له همغه وخته یې سره د شریکې یوې ډیرې پراخه علني جګړې په لړ کې یو ځل بیا د اسلامي دولت په تمکین په هر اړخیز شکل په داسې حال کې هجوم راوړ چې امریکا له دې وړاندې د اسلامي دولت په تمکین داسې مسلسل او ړوند بمبار وکړ چې د انتقال او رسد ټول امکانات یې فلج کړل ، او بیا نو افغان حکومت ، پاکستاني شیعه روافظو او فوځیانو اوطالبانو راوړ

نو کله چې د تړون لاسلیک موده اوږده شوه، دلته د طالب ملیشو له سره حشر جوړ کړ پاکستان هم بیا خپلې مدرسې ورته رخصت کړې ، د ژیران په کندو شیعه روافض او پاکستاني فوځیان د طالب په لیکو کې راوختل ، د لوګر په لار تر ننګرهاره هم افغان حکومت لاره ورکړه، هلته په کنړ کې خو بیخې په سپین سترګی باندې په خپلو نظامي موټرو کې یې د مجاهدینو د نظامي حضور په لور انتقال کړل او لا یې فخر هم کاوه ورباندې،خو چې کله هم حیا لاړه شي بیا د هرڅه کولو اجازه شته.

ایمان او حیا دواړه ملګري ځیزونه دي د حیا په تلو ایمان هم د انسان نه کډه کوي او بیا دغه انسان فقط انساني سمبول پاتې وي د هیڅ تور او سپین تمیز نشي کولی، نو طالب ملیشو باندې همدغه کانه شوی وه،چرس ورته ازاد و، نسوار سیګریت ورته په پوره پیمانه رسول کیدل خو چې فقط د خلافت مجاهدینو په خلاف جنګ وکړي،

دلته په ننګرهار باندې بیا د کنړ په پرتله تمرکز زیات و،د اته زره نه زیات جنګیالي یې یواځې د ننګرهار جنګ ته له یو لوري را داخل کړل او د پاکستان له لوري چې کوم راغلي و د هغې خو شمار نه کیده .

وخت په تیریدو فضاګانې دومره خراب شوی چې سنګرونو ته اکمال په ټپه ودرید، او کوم څه به چې انتقالیدل نو حتمي بمباریدل، اوس هم دغه لارې ګودرې د بار وړونکو حیواناتو د بمبار شویو جسدونو شاهدي وایي، تبادلې لپاره هم مجاهدینو ته موقعه په لاس نه ورتله، اکثر وخت د مجاهدینو خوراک واښه و، یابه کلک بې نمکه نیمه جوش شوي جوار و، چې اور به موهم په ډاډه زړه نشو روښانه کولای،پدې خطونو کې په مجاهدینو لوی او واړه اخترونه هم راغلل، خو هغوی د هفتو ،هفتو اغوستو کالیوتبدیلېدو ته نه جوړیدل، میاشتې وربانـدې خطونو کې راغلي خو دوی‌ته د تبادلې کوم چانس نه جوړیده، بره په اسمان کې به فضا لس دقیقو ته هم په کامله توګه نه صفا کیده، بالاخره دشمن خپل حشر له درې خواوو په خطونو را مرش کړ، خو داخل ترینه د ډرون او جیټ طیارې مخکې رواني وی، کروزنو په بمبار یې هم ملتیا روانه وه ، ترڅو نوي بلک واټر لا په خوشحالی مخکې لاړه شي، د تمکین تر نیمه سقوط پورې به له یو خوا امریکا اعلان وکړ چې د هوایې ځواک په مټ مو د داعش له لاسه ډیرې سیمې پاکې کړې بل پلو به افغان حکومت اعلان وکړ چې زموږ عملیات د داعش په خلاف بریالي روان دي، بیا له بل طرفه به طالبانو زموږ د هرې سیمې ویډیو په سوشل میډیا نشروله چې داعش موږ مات کړ، او اکثرو ویډیو ګانو کې به زموږ هغه ګلالیو مجاهدینو جسدونه ښکاریدل چې هغه به لا له وړاندې په خپل سنګرونو کې په جیټ ، کروز او ډرون په بریدونو کې شهیدان شوي و ، د طالب او امریکا ترمنځ ډیره قوي رابطه موجود وه ، له بره به د طالب ملېشو په صف کې آی ایس آی جنرلانو ته د جګړې نقشه ورکول کیده او ددوی د بندیانو له خولې دوی سره داسې وسایل

په چانټو کې پټ و چې امریکا یي زموږ په شک بمبار نه کړي مطلب امریکایي پیلوټانو به خپل کرایي جګړه مار پیژندل ، لومړې به زموږ سنګرونه او مرکزونه خه کلکل بمبار شول او بیآ به پرې طالب مشرکینو ته د ورختلو امر وشو، د وخت په تیریدو مهماتو مکمل ختم شو ، خوراکي توکي له پخوا نه و ، زخمیان او شهیدان له حده زیات شول ، او طالب د همدې درنو بمبارونو په ملتیآ په ډیره خوشالۍ پرمخ راروان و سره له دې چې بیا هم په هر کنډو او سنګر کې یي د مړو انبارونه جوړیدل ، خو زموږ په هر بمبار شوي سنګر کې د سوځیدلو زلمو جسدونو دوۍ ته دا فکر ورنه کړ چې دوۍ څنګه داسې پرمخ راځي بلکې مشرانو به یي ورته ویل چې داعش هم کافر دې او امریکا هم کافره ده او له یو کافر څخه د بل کافر په مقابل کې مرسته اخستل روا دي نو ځکه به یي ملیشو په مخابرو کې په فخر دا خبرې کولې چې دا بمبارونه دباندې همدا موږ کوو او په ډیر ویاړ به یي د امریکا جنګي طیارې خپلې طیارې ګڼلې او د کرزونو او بمونو درنو چاودنو ته به یي چکې وهلې او امریکایي بادارانو به یي هم خپل هوایي ځواک په مسخره د طالب د هوایي ځواک په نوم نوماوه چې تاسې به په راپورنو کې د امریکایي مشرانو له خولې اوریدلې وي !!

نو اخر هم مجاهدین بې وسه شول او پاتې کم مجاهدین کنړ ته د تللو او محاذ بدلولو په هدف په مختلفو قاچاقي لارو په وتلو شول چې ډیرې یي بیا زندانونه ته پریوتل.

اومه پوښته :

عجیبه ده په دومره سپین سترګې په دومره علني جګړه کې د اسلامي دولت د مجاهدینو څخه د ځینو سیمو په ترلاسه کولو طالبان ځان فاتحان بولي او په بدل کې یي هغه دې د افغانستان واک وروسپارل شو ، خو روزي به یي نه شي ان شاء الله اوس راځو دې ته چې تاسې هم د زندان د تورو تمبو شاته ولاړئ که همدا جریان راسره شریک کړئ چې څنګه زنداني شوې او بیا مو زندان څنګه مات شو ؟

د اومې پوښتنې ځواب : الله ګواه دی چې د زندان له وحشته زیات ویریدم هیڅ په توان کې مې نه وه چې زه دې د زندان تاب ولرم، ما یي زیاتې نا خوالې له خپلو بندیو ورونو څخه اوریدلې وې،

د رب تقدیر وو او زموږ وربانډې رضا وه چې تمکین زموږ له ګوتو ووت نو په یوه قاچاقي لاره مو ځان تر ښاره ورساوه دغه وخت کنړ وضیت هم د ننګرهار په څیر و نو د افغانستان یو، ولایت ته لاړم د هجرت ورځې او شپې په تنهایي صورت تیریدلی، نه هغه ځوانان و او نه هغه د مستو زلمو بنډارونه، اکثره وخت به د فکرونو او غمونو کوربه وم، د خپلو مشرانو له لورې په را سپارل شوي کار بوخت وم، یوه شپه مې خوب لیده ، ما یي له ځان سره تعبیر ویستلی و،چې راسپارل شوی مسؤلیت به ډیره کمه موده ترسره کوم خو وروسته به چاته حواله کیږي بس دا زه نه پیژنم،

وخت په تیریدو مې کور تبدیل کړ، هسې ناڅاپه ذهن ته راغلل چې ونه نیول شې یا بل کوم خبره راپیښه نه شي، خو یو الهام غوندې راته وشو همدې فکر کې وم ملګري ته مې میسج وکړ، ورته مې وویل امکان لري زه بندي شم خو ځینې رازونه دي چې هغه درته وایم بیا مالومات نشته.. ملګري واپس میسج وکړ او په تونده لهجه یې زما خبره رد کړه ویل کور تبدیل کړه.

. بس فکر مې وکړ دلته خو اوس تازه راغلی یم ، ښکاره هم کوم تهدید سره نه یم مواجه خو الله نه به خیر غواړو بس خبرې همداسې پاتې شوې ومې نکړې ملګري ته،

شوال د میاشتې ۲۵ تاریخ و، رمضان ته ۵ ورځې پاتې وی، کور والا مې هم د اولاد په بیمارۍ مبتلا وه، ملګري ته مې میسج وکړ چې دا ماشومان به تر هسپتاله بوځم، سخت بیماران دي، د شپې دولس نیمې بجې دي دوا مو را واخیسته واپس تر کوره چې رسیدو یوې بجې وخت تیر و،

ترخه خاطره مې د زندان په اول قدم کې دا وه چې کله کور ته راغلو ګورم، هرڅه لټ په لټ اړول شوي کور تالاشي شوی ملګری مې واپس کړ، ماشومانو ته مې کړل : تاسو دلته تکیه شئ، زه راځم چې دغه سیروم نصب کړم ځکه تکلیف زیات دی درته، کنول یې تیار په لاس کې تیر و، زه هم دغو ورځو کې زیات مریض وم لا مې دوا خوړله، د اطاق نه بیرون شوم چې همسایه ګانو څخه پوښتنه وکړم دا څه کیسه شوی ده؟

غله راغلي دکور نه یې ښه او نوي شیان ټول کړي او وړي یې دي ، نو تاسو دومره نه خبریدلئ، چې یو غږ مو وربانډې کړی وی، په همدې فکر له کوره را ووتم سوچ مې کاوه چې مبایلونه یي هم وړې دي، کور کې نور ډیر شیان و ټول وړل شوي و، ، د کور له در وازې چې ووتم بس شور او غوغا شوه شیبه نه وه تیره چې د کلاشنو شپیلۍ مې سر او مخکې او ملا ته ونیول شوي چې شور ونه خورې او دې سره یې په ملا باندې د کلاشن په شپیلۍ مخامخ ووهلم چې شل ورځې هغه درد نه ورکیده،

دوه کسان راپسې ونښتل ترڅو مې څملوي او ښه وهل راکړي ، دا د دوی قانون و، وخت لا نه و، تیر چې کور ته دننه شول ، د ماشومانو شور دومره زیات شو چې له ما خپل حال هیر شو، دوه تنکي زامن مې له خوبه راویخ او چغې یې د اسمان تر تاریکو اوچتېدې د بچو مور بیا نو د تکلیف په حالات کې وه ، زما سر ته یې توره خولۍ را واچوله همدې وخت کې مې ورته وویل چې ماشومان مې مریضان دي نهایت زیات مریضان دي خیر دهغوی لږ خیال وکړئ خو دغو وحشیانو د رحم په نوم هیڅ نه پیژندل، دا کیسه غواړم خپل یو داستان ولیکم هغې کې په تفصلي شکل وکړم دلته ستاسې د مرکې لمن دومره نه ده نو رالنډه به یي کړم ، شل دقیقو پورې یې ښه وهل راکړل بیا یې دیوال ته ودرولم ابتدائې پوښتنې یې شروع کړی زما په هکله ورکړای شوی مالومات یې راته بیان کړل ، ویل ته

فلانی یې! دې خبرې سره حیران شوم، زما دغه نوم یوځو کسانو ته معلوم و، خو جاسوس زیات هوښیار و، کله چې هغه مالومات ما رد کړل، نو بل کس سره د مالوماتو په تبادله یې بیرته یقین راغې .

بلاخره د دې ولایت نه یې هوایې جهاز کې تر میدان هوایې کابل ته منتقل کړو بیا ریاست نود ته او بیا ریاست چهل ته پس له څو میاشتو یې د باګرام زندان ته انتقال کړو،

په زندان کې یواځینی شی ،چې مهم دی فقط صبر کول دي او دې سره به جبراً ځان عادت کوی ، د تنهایې شپې د خپلو ملګرو نه جدا د تحقیق په ترخه مرحله کې فقط د دوه میتره اطاق له دیوالونو سره خبرې کول دي بس نور څه نشته.

دلته ریاست نود کې به دتحقیق په دوران کې دردونکې صحنه هغه وه چې د افطاري نه به شل دقیقې مخکې وهل شروع شو آن تر دې چې افطاری به هم خلکو وکړ خو د بندیانو چیغې به نه ورکیدلی د ټول رمضان په یو افطاري مو هم هیڅ د افطاري مینه نده ماته کړی، داسې افطاری به نه و ، چې له اوښکو سره به مو ړوډۍ نه خوړه او هغه هم فقط یو ګیلاس شین چای او لږی غوند وریجی به یې پرسل کې راوړلی نورهیڅ شی نه و، خو دغه به هم موږ نه پاتې وی،

یو ماښام و، چې تحقیق مې خلاص شو منتظر وم چې اوس عسکر راځي د اوسیدو اطاق ته مې بوځي او افطاري ته هم د لسو دقیقو څخه لږ وخت پاتې و، چې ناڅاپه دویم منزل کې چیغې او کړیکې جوړی شوی ، ما د ماښام اذکار شروع کړي و، هغه مې له یاده ووتل چې تر کومه مې رسولي و، شیبه وروسته عسکر راغې دواړه لاسونه یې راولچک کړل سترګې یې راته وتړلې روان وم خو هغه چیغې مې هماغسې اوریدلې دا افطاری نو داسې شو چې فقط د بوتل په اوبو مې وکړ تر ماسختنه مې راغلې اوښکې نه تم کیدې تنکې بچې او مریضه ښځه به مې هم سترګو ته هر وخت نیغ، نیغ کیدل، همیش به مې د صبر دعا غوښتله هیڅ مې نشو براشت کولی چې زما بچې به چیرته او په څه حال کې وي څه فکرونه به کوي، هغوۍ خو مخکې د زندان کیسې هم ندي اوریدلي څه حال کې به ژوند تیروي؟

بس زندان دی او دا کیسې په کې وخت له سره دې لار کې موږ منلی دي، بس چې راغلل اوس به صبر کوو، د باغوز خویندو نه زما ښځه او بچې ښه نه دي، هغه خویندې چې خراسان ته د هجرت په لار کې بندیانې شوي دهغو مهاجرینو نه ندې ښه!!

بس همدغو خبرو باندې به مې ځانته د صبر کولو تلقین ورکاوه.

د زندان هرې صحنې زما ایمان پیاوړی کاوه او د اینده لپاره یې پوره سبق راکاوه، د یو غټ انقلاب په لور یې زما ګامونه مظبوطول، تنهایې سره یې عادي کولم،

دا دېته ورته ډیر څه دي چې ما بیان نکړل که الله توفیق راکړ دابه هم تفصیلي یو وخت ولیکم ان شآءالله.

هر وخت له زندانه د پناه غوښتلو دعا پکار ده ،یواځینۍ د زندان هغه فتنې چې ما هلته ولیدې نو ما دغه په خپله ټوله زنده ګۍ کې هم نه وې لیدلې.

هغه فتنې چې بیرون یې وجود هم نشته،او ما یې تصور هم نه وو کړی......

اخر هم الله عزوجل موږ ته زموږ د صبر ثمره راکړه او زندان مات شو ، اول به داخبره ذکر کړم چې زندان ولې او څنګه مات شو؟

داخو هر لوي او کوچني ته معلومه ده چې څنګه د اسلام تاریخ تکراریږي همدا راز د کفري ملت تاریخ هم تکراریږي او هیڅ شرم یې خوندي نه پاتې کیږي،

نو له یو لاسپوځي څخه بل ته د واک دانتقالیدو په صورت کې الله په داسې حال کې زندانونه مات کړل چې پوره څوکاله دغو زندانونو د مظلومو ماشومانو او مهاجرو خویندو د کوربه توب شاهدي ویله، پدې اخیره کې بیا د عادت خلاف یې زیات ظلم د بندیانو په حق کې شروع کړی واو دا قانون دی چې الله ظالم ته مهلت نه ورکوي، وروسته د همدغو مظلومو خویندو ورونو او بیرون کې دمجاهدینو دعاؤ سبب و،چې رب موږته د نجات لار کولاو کړه.

موږ د باګرام په زندان کې و ، د عسکرو له تللې روحې پوهیدو چې حالات بدلیدونکي دي خو له بل لورې ددغه مرتدینو په ځاې د نویو طالب مرتدینو اندیښمن کړې و چې هغوۍ که زندانو ته راورسیږي نو هغه وحشیان خو له دوۍ بدتر دي ، په هر صورت د ځینو ملحوظاتو له امله نه غواړم په ټولو مواردو وغږیږم خو دومره به ووایم چې د شپې اکثره ملګرو سیخونه او جالونه مات کړل ، غټې اوسپنې مو تیارې ځان سره راماتې کړې او د طالب یا افغان مرتدینو سره د جنګ لپاره چمتو شو ، د وضعې له نزاکته پوهه شو چې نور نو اقدام په کار دي زموږ ځینې ورونو له خپلو جنګلو د جنګلو سرونو ته لار موندلې وه عسکر تښتیدلي و او بیا یې د نورو ملګرو د بلاکونو دروازې له بهره ورماتې کړې وې ، له امارتي مشرکین زندان ته نه و رارسیدلي چې د اسلامي خلافت زمرو په خپلو مظبوطو متو خپلې پنجرې ماتې کړې، او خپل ټول ورونه یې راوویستل موږ چې بیا په ساعتونو مزل وکړ ، نو ډیر لرې مسلح امارتي مشرکین مو مخ ته راغلل ، چې دوۍ بیا زموږ او د خپلو بندیآنو تفکیک نه شو کولاې ګنې د ټولو دا هڅه وه چې زموږ ملګري په شهادت ورسوي، دلته به یوه یادونه وکړم ، چې وروسته بیا آ خبر شوم چې لله الحمد زموږ مشرانو د همدې ورځې لپاره خپله تابیا کړې وه ، او د باګرام خوا وشا یې د غټو ثقیله اسلحو سره پټ خپل انغماسي زمري ځای په ځای کړې و ، که چرته امارتي مشرکین رامخکې شي او زموږ د بندیو ورونو په وژلو پیل وکړي نو چې ورځخه په همغه ساعت انتقام واخستل شي او خپلو ورونو ته نجات ورکړي نو بهر ورونو هم حالات څارلو او الله عزوجل په ډیر څه تدبیر سره موږ ته پنا راکړه . او د رب دغه حکمت هم پکې و، چې د الله صحي بندګان پوره عبادت او جهاد وکړي او د رب سرکښه بندګان بیا همدغې سرکښۍ ته

يې ايله کړل،
الحمدلله زندان زما او زما په شمول د اکثرونو په روحيه مثبت تاثير کړی، هلته مو د عربومجاهدينو د لاس ليکل وليدل هلته مو دهغوی د ايمان کيسې واوريدی هلته مو دهغه دري عربانو چې له زندان نه ورته رب د تښتيدو زريعه برابر کړی وه د هغوئ کيسې مې واوريدې چې زما په ايمان يې بيخي مثبت تاثير کاوه، او دغه زندان د ژوند يو نوي پړاو ته ورداخل کړو،چې دغه لږ وخت زندان ماته د راتلونکې زندګۍ رهنمايي کوي، زندان ماته زما د پاک صف مخلص او مغرض دواړه قسمه ملګري را وپيژندل، ماته يې زما اصلي او د نيمې لارې ملګري هم را وپيژندل، زندان ماته په تير جهاد کولو او د هجرت په زندګۍ کې تولې هغه خاميانې چې يا ما او يا زما ملګرو مشرانو او کشرانو که کړی وې هغه يې را په ګوته کړې، دوست او دشمن يې را وښود، د لستوني ماران يې را وپيژندل، او دجهاد په مقاصدو يې پوهه کړم،

لنډه دا چې ډير هغه څه چې بيرون يې د زده کړی پوهنځۍ نه وو هغه مې زندان کې زده کړل، او فعلا جهادي صف کې په خپلو فعاليتونو بوخت يو الحمدلله او د خپل رب نه مزيد توفيق يې غواړوان شآءالله

اتمه پوښتنه :

الله عزوجل دي ستا په شمول له ټولو ورونو دا کړاونه او تکليفونه قبول کړي ، لکه څنګه چې تاسې وويل زندان تاسې ته يو تربيت شو ، ستاسې په روحيه يې مثبت تاثير وکړ ددې علت څه دې چې دومره کړانو او سختيو باوجود د اسلامي دولت رښتيني مجاهدين په خپل مسير روان دي او دا سختۍ او کړاونه يې له خپل هدفه نه شي ستنولی ؟

د اتمې پوښتنې ځواب : داخو د يوې روښانه ورځ په څير واضحه او ښکاره ده چې هم بنديان شو هم زخميان شو هم شهيدان شو هم مو غوښې د غرونو ځناورو وخوړې لا مو هديرې ندي مالومې او بياهم د دې سره ، سره ستونزې کړاونه او مشکلات دومره زيات چې اټکل يې ناشونی دی او د دې با وجود مجاهدين له خپل مسيره نه ستنيږي خپل بيعت او عهد نه ماتوي، جهاد ته يې دوام ورکړی،الحمدلله، چې دا ټول د الله عزوجل ځانګړې رحم دي

يواځينی لامل چې ماته رامالوم دی او داسې د هر ملګري په ذهن کې به دغه خبره وي چې هر هغه څوک چې دې صف ته په پوره بصيرت راغلي او هجرتونه يې کړي دي په پوره ايمان سره دا هرڅه ښه په پراخه سينه برداشت کوي، نو کله چې ايمان په زړه کې قرار ولري او عقيده يې هم د توحيد سپيڅلې عقيده وي، نو دغه مصايب او مشکلات ورته د الله په لار کې په هيڅ حساب دي،

او ولې به ثبات او صبر نه لري چې د خپلو سلفو تاريخ يې مخې ته پروت دی، دهغوی صبر او ثبات موږ ته هم د ورته ستونزو باندې د صبر او ثبات درس راکوي،

او يوه مشهوره مقوله ده وايي عقل له کم عقلو زده کيږي نو زموږ د مجاهدينو ورونو مخې ته د تير وخت د طالب په نوم د مخلصو مجاهدينو د وينو خاينان د هغوی تاريخ ورته مخې ته پروت دی، کوم څه چې طالب د مخلصو خلکو نه په سوء استفادې سره وکړل نو دا ستر خيانت ته به هيڅ د عقل خاوند تيار نشي چې کلونه کلونه زخميان شهيدان اسيران او معيوبين ورکړي او کونډې يتيمان ورته پاتې شي، په زرهاو استشهاديان يې ترمخې تير شوی وي بيا هم د دې با وجود ددغو له وينو سره خيانت وکړي او خپل سم مسير څخه کاږه شي او خپل جهاد د پرديو ګټو نه قربان کړي او ټول هر هغه نانذری چې د جهاد په وجه ورباندې تير شوي را هير کړي، نو دا هر هغه څه دي چې موجوده وخت کې د ارګ په ګدۍ سواره تجارانو او قصابانو ترسره کړل، او ځانونه يې ورباندې چوکيو ته ورسول........

نااااا... ان شآءالله د اسلامي دولت د کاروان مله لارويان به هيڅکله هم په تصور کې دغه ونه ګرځي، او نه يې تر اوسه پورې پکې کوم څرک ښکاري،الحمدلله.

اخري غوښتنه :

جزاکم الله خيرا ورورہ الله دې درڅخه راضي شي او الله عزوجل مو همداسې با ثباته وساته په اخره کې خپلو مجاهدينو ورونو ته کوم پيغام لرئ او عامو مسلمانانو ته څه ويل لرئ ؟

ځواب : زه خپلو هغو ورونړاو خويندو ته وايم چې موږ سره په حساسو حالاتو کې د هرقسمه فشارونو او تهديداتو لاندې له ستونزو او تکاليفو ډک ژوند کوي، خپل له سهولتونو ډک ژوند يې پريښی دی،خپل کلی او وطن يې پريښی دی، خپلو خپلوانو څخه يې جدايي اختيار کړی ده،او هره لحظه يې د شهادت او اسارت احتمال شتون لري،

نو ای خوږو او زړه ته رانږدې مهاجرينو او انصارو وروڼو او خويندو!

که وګورو نو پدې باب کې زيات نصيحتونه موږ او تاسو لپاره علماؤ ليکلي دي او بې شميره بيانات يې کړي نو بايد هغه ټول مطالعه کړو او بيانات واورو او عمل ورباندې وکړو په ځانګړې ډول په قرآن کريم کې د منافقانو ،فاسقانو ،کافرو او مرتدينو کوم صفات ذکر شوي د هغې څخه ځانونه ورونه او بچې لرې وساتو او د مؤمنانو، مجاهدينو، صحابه کرامو صفات بايد په خپل ځان کې راولو ان شآءالله تعالی.

هميش لپاره دا فکر وساتئ چې د الله په عبادت کې مقصر يم،ځکه پدې خبره دوکه نشئ ګني زه مجاهد يم او هجرت مې کړی بس دا ډيره لويه خبره ده، هو دا خبره هم صحی ده چې پدې وخت کې جهاد او هجرت د هر چا له توانه بهر ده، خو چې موږ او تاسو د جهاد او د هجرت په چوکاټ کې دننه شوي يو نو د زموږ کمال نه بلکې د الله احسان دی ، نو بايد هميش کوشش وکړو چې په ټول دين باندې عمل وکړو، لکه الله رب العلمين چې وايي:ای مؤمنانو په اسلام کې ټول په ټوله داخل شئ"

نو محترمو ورونو او خويندو که متوجې شو نو دلته خطاب مؤمنانو ته دی، عام مسلمان ته هم ندی، او دغه ايت لاندې امام قرطبي رحمه الله وايي چې د سر له

ويښته نه واخله تر پښې د ګوتې نوک پورې په اسلام کې داخل شه؛

نو که همدغه ایت کې فکر وکړو نو هیڅکله به هم له موږ او تاسې څخه غفلت ونشي، او پدې اګاه واوسئ چې تر مرګه موږ او تاسې د رب په عبادت مکلف یاستو او جهاد ډیر اهم عبادت دی، ذروة السنام فی الاسلام ورته ویلی شوی دی،

بله خبره داچې: همدا ورځې د صبر او ثبات ورځې دي، او د ایمان سره د وفا ورځې دي د ثبات لپاره نهایت زیاتې دعاوې کول پکار دي ترڅو الله موږ ته صبر او ثبات را په برخه کړي، کله چې اساني راشي او سهولت وي نو هرڅوک بیا رامنډې وهي خو د سختو ورځو خلک زیات کم پیدا کیږي، نو اوس خپله وفا د خپل خلیفةالمسلمین سره ښکاره کړئ د خپلو مشرانو ترځنګ ودریږئ او هر خدمت ته لبیک ووایاست ان شآءالله،

همیش په هر کار کې اخلاص وکړئ د سمعت او د شهرت څخه ځان وساتئ، ځکه دغه کارونه اعمال صالح خرابوي،

هغه اسباب ولټوئ چې په هغې سره د انسان په اعمالو کې اخلاص پیدا کیږي او هغه لار اختیار کړئ چې په هغې سره انسان د ریاکارۍ ، سمعت او حب شهرت څخه نجات مومي .

همیش عبادات زیات کوه، هغه که ذکر وي یا لمونځ وي یا روژه نیول وي او یا صدقات ورکول وي،او تلاوت کول وي،

دومره علم وکړه چې دهغې په رڼا کې خپل جهاد مختته یوسې او د جهاد او مجاهدینو لپاره چې الله کوم قوانین په سورة انفال کې ذکر کړي دي هغه یاد ولره ترڅو دهغې په رڼا کې جهاد وکړې،

همیش په خپل دین ثابت پاتې شه او پدې هم سر خلاص کړه چې له دې دین نه پرته بل غوره او رب ته منلی دین نشته،

همیش کوشش وکړه د ګناهونو څخه ځان وساته بالخصوص د کبیره ګناهونو څخه، ځکه دا هغه څه دي چې انسان د تباهۍ په لور کش کوي،

همیش د رب د دین داعي اوسیږه خپل اهل او دوستان او کورنۍ مو هم له دعوت څخه محروم پاتې نشي مګر حجت وربانديې قائم کړه،هدایت د الله په لاس کې دی، او د قتل نه یې هدایت ته زیات خوشبین اوسیږه،

پام کوه د ریاست او مشرۍ محبت دې چیرته هم په زړه کې رانشي، پنا ترې غواړه ځکه دا هر هغه څه دي چې انسان جهنم ته رسوي د رب مدد درڅخه قطعه کیږي، او که چیرته درته د خپلو مشرانو له لورې مسؤلیت در کړای شو نو د الله نه پکې مدد غواړه، د انصاف او عدل څخه کار اخله، د خپل رعیت نه غافل نشې او د امنیت په بهانه ترې پټ نشې.....

ګوره چیرته درنه په غنیمت کې غلول ونشي چې تیر جهاد او شهادت اسارت دا هیڅ به هم درته کومه ګټه ونه رسوي وروره!

ګوره وروره چیرته د قتال له میدان څخه پښې سپکې نکړې چې داهغه کبیره ګناه ده چې په سبب یې جهنم اور درته واجبیږي،

پدې پوهه شه چې په اوس وخت کې د خلافت له جماعته بله حق ډله نشته او پدې جماعت کې په تا لازم دي چې د اعلاء کلمة الله لپاره وجنګیږې او خپله وینه تویه کړې،

همیشه عاجزي کوونکی اوسه د تکبر څخه لیرې اوسه ګوره چیرته هم درنه د نورو ورونو تحقیر او سپکاوی ونه شي ګنې هغه به د رب په وړاندې د عزت والا وي او ته به خوار زار او ذلیل شې،

ای مجاهده وروره پدې پوهه شه چې د اطمنان زندګي او امن په هر هغه څه کې دی چې الله له اسمانه رانازل کړی دی نو ددغه منزل کتاب په تحکیم او تطبیق کې حریص اوسه.

همیش خپل امراء او خوږ خلیفه صیب په نیکو دعاګانو کې هیر نکړئ تاسو باندې یې حق دی چې دعا ورته وکړئ، ترڅو الله ورسره په دغه درونده امانت په اداء کولو کې مرسته او کومک وکړي،

او همیش د خپلې ماضي څخه د مستقبل لپاره توښه واخلئ،

او ای هغه وروره ! چې کلونه، کلونه دې د الله په لار کې قرباني ورکړه او نن دې هغه هیره کړه او جهاد دې پریښوده، ته په ګریوان کې سر ښکته کړه او فکر وکړه چې زما ایمان الله ته نفعه نشي رسولی او نافرمانې مې ورته نقصان او تاوان نشي رسولی بلکې ایمان ستا په ګټه او نافرماني ستا په تاوان ده نو راشه او خپل بیعت دې بیرته تازه کړه، والله درباندې مې زړه درد کوي او رحم مې درباندې راځي کنې دا صف ما او تاته ضرورت نلري، او ډیر په ښه حال کې دا صف د پیش قدمۍ په حالات کې دی.

اخیرنی پیغام مې دا دی چې همیش لپاره خیر خواهان اوسیږئ، چې دا خیرخواهي به ستاسو په ګټه تمامیږي ان شآءالله تعالی،

{عامو خلکو ته پیغام}

زه له همدې سنګره خپلو هغو عامو مسلمانانو ورونو او خویندو ته پیغام ورکوم چې، پیغمبرمو یو دی، الله مو یو دی، قبله مو یوه ده،

ای عامو مسلمانانو ورونو او خویندو!تاسو ته وایم الله خو تاسو پوره د عقل خاوندان پیدا کړي یاست الحمدلله او د توحید په عقیده یې تربیت درکړی دی، آیا تاسو ته د اسلامي خلافت حقانیت نه دی واضح؟

آیا تاسې چې دغه لمونځ کوئ او دالله کلام پاک تلاوت کوئ نو له تاسو څخه دغه کلام څه تقاضا کوي؟ایا کله مو پکې سوچ او فکر کړی؟

آیا کله مو پدی فکر کړی چې موږ الله د څه لپاره پیدا کړي یاستو؟

آیا کله مو پدې سوچ کړی چې د الله په ځمکه ګرځو او دالله رزق خورو او خبره یې نه منو، نوچیرته دغه وخت کې د الله څخه ویریدلي یاست؟

آیا هغه وخت چې ستاسو په مخکې د الله نافرمانیانې کیږی نو د یوې مخه مو چیرته نیولې ده چې مه کوه دا ګناه ده؟

والله ای مسلمانانو د زړه له درده درته وایم په خپلو ځانونو رحم وکړئ خپله په خپل لاس ځانونه د جهنم خوراک مه ګرځوئ چې درباندې ګرم شي،

نن تاسو يوه عظيمه فريضه ترک کړې ده چې په سبب يې تاسو د کبيرې ګناه مرتکبين ګرځېدلي ياست، چې هغه فرضي جهاد او هجرت دی،

خير تاسو په خپل هغه تاريخ کې سوچ وکړئ چې د الله دشمنانو باندې مو يو وخت د افغانستان خاوره تنور ګرځولې وه، نو اوس څه در شوي دي؟ايا جهاد منسوخ شو او که کافر مو مسلمان شو؟

اوکه نن د دنيا په سر مظلوم شتون نلري؟

او که يا ټوله نړۍ اسلامي ګرځيدلې ده؟

خو جواب به يې هرو مرو دا وي چې نه کافر مسلمان شوی دی،نه جهاد منسوخ شوی، مظلومان هم ښه پريمانه او د خپل معتصما غړپه پار لبيک ټکي ته منتظر دي؟

او نه نړۍ باندې اسلامي نظام حاکم شوی دی،

ښه نو اوس تا ته څه کول پکار دي؟

لږ فکر وکړه او د عدل فيصله خپله وکړه خپل ضمير ځانته قاضي کړه،

نو زه د همدردۍ له وجې تاسو ته دعوت درکوم چې راشئ او د خپل ژوند اخيرې حيصه مو قيمتي کړئ، له تاسو ډېر غوره خلک راغلل او دلته د تور بيرغ لاندې خپل رب ته معذور ورغلل،

تاسو ته نور هيڅ ويل نه غواړم فقط د انصاف په نظر د اسلام په عينکو کې وګوره او خپل ازاد ضمير ته دې بيا ځواب ووايه،

بله داچې هميش تاسو ته د خلافت اسلاميه او د دې مشرانو په هکله شبهات در اچول شوي دي، لله الحمد چې هغه په هر زمان او مکان کې نادرست ثابت شوي دي،

تاسو ته ويل شوي و، چې د خلافت مشران د امريکا پروژه ده نو وګورئ د امريکا پروژه څوک ثابت شو؟ او څوک ورسره لا هم سپيڅلې مبارزه مخ په وړاندې وړي؟

موږ ستاسو بچي او ستاسو دعزت د دفاع لپاره راوتلي يو نو ولې تاسو له دې پاک دولت څخه دفاع نه کوئ؟

تاسو خبر ياست چې موږ څه غواړو؟

نوستاسو مخې ته مختصر يو اهداف بيانوم چې موږ څه غواړو؟

١/موږ جهاد ځکه شروع کړی چې دا يو اهم عبادت بولو او په عبادتونو کې يې اوچت عبادت بولو{فقاتل فی سبيل الله لاتکلف الانفسک الله الخ٨۴نساء}

٢/موږ له دې وجې دا شرعي مبارزه پيل کړې چې خلک د طاغوت له بنده ګۍ وژغورو او د رب بنده ګۍ ته يې را وبلو{وماخلقت الجن ولانس الا ليعبدون" ذاريات٥٦}

٣/موږ د الله په ځمکه د دې لپاره مقدس جهاد پيل کړې چې د الله په ځمکه هيڅ شرک او فتنه پاتې نشي{وقاتلوهم حتی لاتکون فتنة ويکون الدين کله لله...الخ انفال٣٩}

۴/جهاد کول ځکه کوو چې د الله کلمه(توحيد) په ټولو کليمو اوچته شي{انفال٣٩}

٥/موږ د دې لپاره جهاد ته ادامه ورکړې چې مستضعفين خلک د ظلمونو نه د نجات ساحل ته کش کړو ان شآءالله،{ومالکم لا تقاتلون فی سبيل الله والمستضعفين من الرجال والنياء والولدان... الخ"نساء٧٥}

٦/موږ د دې لپاره جهاد کوو چې د دې په سبب سره الله له موږ او زموږ د مستضعفينو مسلمانانو نه د کفارو جنګ دفع کړي{ عسی الله ان يکف بأس الذين کفروا..."نسآء٨۴}

٧/موږ د دې لپاره جهاد شروع کړی او لا به دوام لري چې پدې سره دالله عز وجل دشمن وويروو موږ ته امر شوی د دوی په ويرولو{وأعدوا لهم ما استطعتم من قوة ومن رباط الخيل ترهبون به عدوالله وعدوکم وآخرين من دونهم. "انفال٦٠}

٨/موږ ځکه جهاد کوو چې زموږ دين اسلام د رحمت دين دی نو دغه د الله رحمت موږ د نړۍ په ټولو ښارونو کې غواړو چې عام شي{وما أرسلناک الا رحمة للعالمين"الانبياء١٠٧}

نو دا او ديته ورته د ټولو شرعي اهدافو په موخه موږ جنګيږو، نو اوس فکر وکړئ چې موږ د هغه چا پروژه يو چې پورتني اهداف يې راکړي او دهغې په پار يې جهاد هم پر موږ فرض کړی، څوک چې له کوم ادرسه رهبري کيږي نو رعيت يې د هماغه پروژه بلل کيږي، زموږ رهبري قرآن او سنت کوي زموږ ستر رهبر محمد مصطفی دی، او د چا رهبري چې امريکا کوي هغه د امريکا پروژه ده، او دچا رهبري چې پاکستان يا هندوستان يا ايران او روس کوي نو دوی هم د هغوی پروژه بلل کيږي،

اوس قضاوت په تاسو چې زموږ موخه څه ده او اهداف څوک راکوي؟

(وما علينا الا البلاغ المبين)

بې دین طالبه!

تش په نوم سوله زلیله او بې دین شوې
طالب جانه نه د دین نه د سادین شوې

ما ویل که ته د دې ولس دفاع کړې
ته بچی د پاکستان شیطان لعین شوې

مؤمنانو ته، ته تریخ شوې لکه زهر
سور کافر لره ته خوږ لکه ګبین شوې

فیصلې کړې په قانون د لارډ میکالي
ځان ته سوچ وکړه قابل ده کوم ائین شوې

مونږ ته وایې خوارج په کومه وجه؟
ځان ته نه ګورې غلام د روس او چین شوې

د یزید کلام له رون حقیقت ډک دی
په لوستو باندې یې ولې تور او شین شوې



د سپين غر زمرى

له هجرت وروسته مو د سپين غر په لمنو کې دا لومړى ژمى و، موږ د سمې خلک خو هسې هم د يخنۍ د ټينګې نه يو، په واورو کې د ژمي شپې سختې وې، خو د اسلامي خلافت د سنګرونو او کارونو سرګرميانې او د خوږو مجاهدينو ورونو د محبت تاوده دومره و چې د ژمي يخنۍ ته مو هېر نه فکر کيده ، د هجرت مو تقريبا کال پوره کيده خو دا ارمان لا راسره و چې دا د سپين غر زمرى به کله ګورم ، څو ځل مو اراده وکړه چې يوازې د همدې د ليدو لپاره هسکې مېنې ته لاړ شم ،خو هيڅ موقعه مو نه موندله ، دده د ليدو ليونۍ تنده او ارمان راسره اوسنى نه و ، بلکې له هغه وخته راسره مل و ، کله چې د امريکايي اشغال تازه وختونه و، د امريکايي درنده ګانو د تبليغاتو ماشين دومره په زور او شور کې چالان و، چې غوږونه يې کڼول او سترګې يې ړندولې ، د همدې تبليغاتو په مټ د دوى د ټکنالوجۍ رعب او طلسم دومره خور و چې هيچا يې د ماتولو جرآت نه کاوه ، وسلواله مبارزه خو څه چې چا يې په خپل کور کې په خلاف خوله نه چوله کوله ، همداسې سخت وخت و ، چې له هسکې مېنې به د چاودنو او نورو نظامي تحرکاتو خبرونه راتلل، همدا د سپين غر زمرى و چې د سپين غر له هسکو څوکو يې د اذادۍ او حريت اذان وکړ ، ورځ تربلې يې ملګري زياتيدل او داسې وخت راغې چې د افغان مرتدينو حکومت فقط د ولسوالۍ تر ودانې محدود شو او سره له ستر طاقته هم په رڼا ورځ ددې غرنيو پړانګانو له ويرې د ولسوالۍ پرسونل ښار ته تګ راتګ نه شواې کولې او يو ځل خو مو واوريدل چې د هسکې مېنې والسوال په زرنج کې تنور ايښې و ، په همغه تنور کې ناست و او ښار ته يې پښې سپکې کړې وې ، امريکايان څو ځل مجبوره شول چې ددې غرني زمري مخه ډب کړي ، د ډرونونو له بريدونو رانيولې څو پرلاپسې چاپې يې پرې ووهلې خو الله به نجات ورکاوه ، يو ماښام راته يو کليوال مې وويل چې نن ماذيګر د هسکې مېنې په اوغز سيمه کې د سپين غر په دې زمري په رڼا ورځ امريکايانو چاپه وهلې .

د مرګ او ژوند مالومات يې نه و، ټوله شپه سخت انديښمن وم ، په خيال کې د سپين غر په ځنګلونو او ناونو کې ددې سپيڅلو مجاهدينو سره ګرځيدم ، دعاوې مې کولې چې الله دې بچ لري ، دده حماسو او کارنامو دده په ناليدلي مخ مين کړى وم ، څو ورځې وروسته خبر شوم چې سرى بچ دى ، لنډه دا چې کله مې هجرت وکړ نو دده د ليدو تنده مې لا زياته شوه .

دهجرت شپې وې ، ډيرې خوږې وې ، يو ماښام په جمعه کې مې په جمات کې په کوم ميلمه سترګې ونه لګيدلې ، له جماته چې راووتم نيغ حجرې ته ولاړم ، يوازې درې څلور ځاېې مجاهدين و چې همدلته به حجره کې پاتې کيدل ، لګيا و د حجرې بخارۍ ته يې لرګي ماتول ، ترې ومې پوښتل : ميلمانه خو نه شته ؟

يو يې په ټوکه وويل : نه ، د الله رحم دى نن ميلمانه نه شته .

ورته مې وخندل : وروره اوس ميلمنو عادت کړې يو چې نه وي نو پريشانه يو ، هغه هم وخندل زما د خبرې په تايد يې سر وخوځاوه ، ويل يې ټوکه مې وکړه .

نن يخني له نورو ورځو زياته وه ، واوره هم شروع شوه ، زه ترې کور ته راغلم ، ډير ځنډ وروسته ملګرى راغى ويل يې : وروره ميلمانه راغلل .

په بيړه حجرې ته روان شوم، واوره په باران بدله شوې وه ، د پراخه حجرې په

دروازه چې ورننوتم نو غټه بلري بخارۍ کې د ځيرې لرګو ښسار کاوه ، د اور غرهار ختلو ، تازه راغلي ميلمانه لګيا و، چا له ځانه لامده ځادرونه لـري کول او د حجرې په ديوال کې په راوتلو موړيو کې زوړندول او څوک لګيا و خپلي لمدې څڼې يې وچولې ،له سلامه پس مې په هغه ملګري چې د حجرې خدمت به يې کاوه او ډير کله به بخارۍ کې د اوربلولو سره په جنګ و، او په پوکو وهلو به يې له سترګو اوښکې رواني وې ، ورغږ مې کړ :

وروره نن مو څنګه بخارۍ داسې ښه لګولې هغه ده اور په کې په غرغندو دی؟

بخارۍ ته ناست يو دنګ هيبتي ځوان چې لا يې هم لرګي ورسمول راپاڅيد ، له ورغاړيوتلو مخکې يې راته وويل : اور مابل کړ ، ستا دې ملګري خو ډيره خواري وکړه خو ونه شوه ، مجبور شوم خپله مې شروع وکړه ، موږ غريز چې نه يو تاسې سپمه ايز به راځخه يخني ووهي ، همدې خبرې سره په خندا ورغاړيوتم ، څومره ورځ وه چې وريځ ، واوره او باران و ، بيټرې چارج نه درلود او د سولرې برق تتې رڼا کې مو په لومړي نظر يو بل ونه پيژندل ، ټولو راغلو ميلمنو سره مې روغبړ وکړ، چې کيناستو او بيآ مو سره د حال احوال پوښتنه شروع کړه، نو تر نورو دنګ ځوان چې خړ پکول يې ياغي ځوانۍ او ګورو څڼو سره ځانګړې ښايست شينده، بيا راولاړ شو ، په خندا يې وويل : فلانی يې ؟

بيا يې نو تر ډيره په مظبوطو متو کې خپلې پراخه سينې پورې کلک نيولې وم، دې راته لګيا و : الله بنده عکسونو کې خو بل ډول يې ،په خندا يې خبرې وغځولې څه شوه چې په ځای مو ګير کړې ، همدا ستا د ملاقات له خاطره مو ځانونه په باران لامده کړل .

لا سره غاړه غړۍ و چې يو ملګري په ما راغږ کړ : وروره تا وپيژانده که نه ؟

کاروان دی .

مخامخ ديوال ته ولاړ ملګري ته مې په داسې حال کې وکتل چې لا هم ملګري سره غاړې غړې وم ورته مې کړه : دا څه وايې، عمر کاروان ؟

ويل يې : هو وروره .

نور مې هم غيږ کې راټينګ کړ خو ددې نښتر ، نښتر او چينار ،چينار زلمي له ډېر څخه زما لاسونه سم نه تاويدل .

هو !

نن مې د کلونو ارمان پوره شو ، هغه څوک چې زه يې په ناليدلې مخ مين وم ، نن په خپله زما ملاقات ته راغلی و، او دادی راسره غاړه په غاړه دې ، سترګې مې د خوښۍ په اوښکو لمدې وې ، عجيبه کيفيت و ، د داسې خوږو شيبو د احساس له ترجمانۍ لفظونه عاجز دي ، د الله لپاره محبتونه څومره خوندونه لري ، دا رشتې د وينې او نسب له رشتو ډيرې خوږې او مظبوطې دي .

له غيږې يې چې خلاص شوم ، په مظبوطو لاسونو کې يې زما لاسونه کلک نيولي و، يو بل ته مخامخ ولاړ و، د دواړو له سترګو د خوښۍ اوښکې رواني وې .

ورته مې وويل : زه به په منډه لاړ شم چې تاسې ته وچې جامې راوړم ، يو ملګري په خندا راغږ کړ : راځه وروره تکليف مه کوه په کاروان او امارتي امر صيب دواړو کې زموږ او ستاسې د غاړې جامې نه جوړيږي ، ټولو وخندل .

په لومړي ځل مې د عاجزۍ ، خاکسارۍ ، مينې او اخلاص دې مجسم تصوير ته په کتلو سترګې نه مړيدې ، ټوله شپه مو سره زړونه تش کړل .

بيا نو څه وخت وروسته د همدوی کلي ته کډه شوم او تر ډيره به سره يو ځای و ، دعمر کاروان د کارنامو او حماسو کيسې او ددې سره زما د درې څلور کاله يو ځای اوسيدو ډيرې خوږې خاطرې دي چې هغه نو په دومره لنډه ليکنه کې نه راټوليږي، د کاروان په اړه به زما خپلې کيسې او خاطرې دده په ژوند زما په يو حقيقي ناول (فولادي کمر) کې ولولئ چې لله الحمد د کار لاندې دی او ان شاء الله له بشپړيدو وروسته به زر خپور شي ، خو اوس چې عمر کاروان زموږ او ستاسې منځ کې نه شته خو يادونه او خاطرې يې ژوندۍ دي .

عمر کاروان څوک و؟

د کوم ځای و ؟

څنګه يې د وخت د ستر ښامار امريکا په خلاف په لومړي ځل په وسله واله مبارزه لاس پورې کړ ، کومې حماسې او انقلاب زيږونکې کارنامې لري ، او څنګه د امريکايانو د څو ځل مسلسل هوايي او زميني بريدونو ژوندي ووت، څو ځله زخمي شو ، د اسلامي خلافت د کاروان سره څنګه ملګرې شو او اخر يې څنګه د امريکايي کروزنو په بمبار کې خپله دنګه انقلابي ځواني د الله عزوجل د کلمې د لوړاوې په هدف ځار کړه اوس به راته دا ټولې کيسې دده د څنګ يو ملګری شاهد الله وکړي .

شاهد الله د عمر کاروان په اړه وايي :

د عمر کاروان خپل نوم عبدالخالق و پلار يې حاجي جانداد نوميده ، عمر د هسکې مينې ولسوالۍ د سپين غر په واورينو لمنو او ځنګلونو کې اباد د انګور کلا په نامه د يو خايسته کلي اوسيدونکی و، د عمر ماشومتوب د سپين غر په ناونو او ځنګلونو کې له يو کمر څخه بل او له بل څخه بل ته په ټوپونو او د نښترونو په ځانګو کې په ټالونو او ددې اسمانڅکي غر په څوکو کې په ورځو ، ورځو مزلونو او تنديکونو کې تير شوې ، عمر د سپين غره د واورو د طوفانونو د خونړيو ناونو سيلابونو ،جرې ، چکړ او بارانونو داسې کلک او سخت وروزه چې هم يې په قوي او مظبوطو متو کې او هم يې په ارادو او نه ماتيدونکو حوصلو کې د سپين غره د لوړوالي او لويوالي بيلګې او نښې له ورايه ښکاريدې .

دعمر د ځوانۍ سپرلی او په افغانستان د امريکآيي يرغل خزان يوځای راورسيدل ، د سپين غر په مرګوني کمرونو کې روزل شوي ددې غرني زمري په فطرت کې غلامي نه وه او لا يې تنکۍ ځلميتوب و چې په خپلو پلارنيو کليو او باندو کې به يې خلکو ته ويل چې دا خو زما طبيعت بيخي نه مني چې امريکايان دې دمسلمانانو په خاوره داسې سرې سترګې وګرځي ، دا هغه وخت و چې د امريکايانو په خلاف په غر او سمه په هيڅ يو کور کې دننه هم چا ددوی خلاف خبرې نه شوای کولای ، عمر دا وخت خپل يو داتسن موټر درلود چې لرګي يې په کې وړل ،ډير کله به په لارو کې د لارې په چک پواينټونو کې پوليسو او

عسکرو سره په جنجال کيوتي و ، د لارې ټولو تالاشيو پيژانده ، عمر به ويل دا خلک ټول د امريکا غلامان دي او له حده زياته کرکه مې ترې کيږي ، دغه وخت نو کوم جهادي حرکت او خوځښت نه ترسترګو کيده ، خو عمر به د امريکا په مرتدو مزدورانو خپله غصه په بل ډول سړوله .

عمر کاروان به اکثره ددې له خاطره چې ونه پيژندل شي د شپې به يې په موټر لرګي چلول او دا ددې له خاطره چې د شپې به پوليسو او عسکرو لاس ورکړ نو په ځاۍ ددې چې ورته ودريږي نو اکثره به يې د موټر د سيني لاندې کول ، وايي په اول ځل مې دې طريقې ته هغه وخت پام شو ، چې د سړک په غاړه ولاړو څو عسکرو لاس راکړ، ورته ودريدم هغوي چې ښه د موټر مخکې سينې ته برابر شول نو يو دم مې پرې ورخيژ کړ او ترې لاندې مې کړل ، دا کار يې بيآ معمول شو او ډير د امريکا مرتد مزدوران يې په دې طريقه د جهنم کندې ته ليږلي و .

او يو ځل خو يې ژوندی مسلح عسکر هم راتښتولی و ، هغه داسې چې نوموړي له بادي ډير مظبوط و او د ډاټسن سيټ کې به هم راغبرګ ناست و، وايي يو ځل د ولسوالۍ ټول عسکر راوتلي و او غوښتل يې چې ټول موټرونه ولسوالۍ ته يوسي هلته تحقيق وکړي او هغه موټر مالوم کړي چې د دوی عسکر وهي نو زيات لرګو والا ډاټسن موټرونه يې ودرولي و ، هر يوه سره يې يو عسکر کيناوه چې ولسوالۍ ته يې ورسوي ، عمر سره هم يو مسلح عسکر راناست و ، کله چې عمر د ولسوالۍ لار بدله کړې وه نو عسکر وارخطا شوی و ، عمر په يوه لاس د موټر جلو ټينګ کړې و او د بل لاس په فولادي پنجه کې عسکر او ورسره اسلحه يې قابو کړې و، عسکر چغې وهلې او دغه وخت يې نور ملګري پوهه شول چې عسکر يې وتښتاوه نو ورپسې څو دولتي موټرونه د شا له خوا راروان و، عمر چې په يوه وخت يې موټر او عسکر کنترولول، لار هم نوره خامه او خرابه شوه وايي نور مې موټر نه شو کنترولولای او شاته موټرونه هم راورسيدل ، موټر مې د يو ورو کې ديوال سره وواهه نور مې ټوپ کړ او وتښتيدم خو د شا له اړخه په اوږه کې په مرمۍ ولګيدم او له اوګې مې مردکې ووت، وينه مې روانه وه ، عسکر راپسې راخواره شول هر لور ته يې ډزې کولې يوځاى د شولو پټي او ځنګل زار ساحه وه هملته پټ شوم ، کله چې عسکرو پيدا نه کړم نا اميده ستانه شول بيا مې د يو کور دروازه ورو ټکوله او هغوی پنا راکړه .

داېي يو مثال و او داسې کيسې زياتې شوي .

د جهاد سره ليونۍ مينې عمر په ارام نه پرېښوده ، اخر هم عمر د خپل ارمان څو مخلص لاروياڼ وموندل ، اوس يې نو بارود هم پيدا کړي و او د ماين جوړولو په طريقو هم پوه شوي وو.

د ننګرهار د سپين غر په لمنو کې په لومړي ځل د افغان حکومت د مرتدينو رنجر والوځاوه ، عمر وايي کله مو چې لومړی رنجر انفجار کړ نو دې صحنې سخته مزه راکړه او نور مو هم مورال واخست دا نو داسې وخت و چې په ياده سيمه کې ټولو قومي مشرانو او ولسونو دا تره کړي وه چې هر څوک د مجاهدينو سره ملګري شول ، له وطنه به شړل کيږي مال او شاروي به يې ضبط کيږي او مېنه به يې هم سيزل

کيږي ، هيڅوک نه و چې مجاهدينو سره تش په خوله هم همکارۍ ته تيار شي ، خو د عمر مورال د راپريوتو په ځاې لوړيده ، مخلص ملګري يي وموندل ، په ولسونو کې د افغان مرتدينو تحرکات يي څارل او په نښه کول اخر مرتدين مجبور شول له ولسونو يي خپله لمن پوستو ته ورټوله کړه ، خو عمر يي پريښودونکې نه و ، داسې وخت راغې چې عمر نو
يوازې عمر نه و بيا نو کاروان شو .
هو! د غرنيو پړانګانو کاروان .
بيا يې د دښمن په پوستو بريدونه شروع کړل او ډير ژر يي د مرتدينو حکومت له ټولې ولسوالۍ ورټول او د ولسوالۍ تر ودانۍ منحصر کړ، چې بيا به يي چارواکي يا د ښځو په جامو کې ښآر ته تلل راتلل او يا به يي کلالانو سره قراداد کړې و او په تنورنو کې به ناست وتل .

ورځ تربلې د مجاهدينو نفوذ زياتيده او ددې سپيڅلو مجاهدينو سره د ولسونو مينه ددې باعث شوه چې بيا به هغه ملکان پټ ګرځيدل چې په ولسونو کې د مجاهدينو د کورنو د سوزيدو ګواښونه کول ، د وخت په تيريدو امارت هم خپل فعاليت پيل کړ، او د امارت کوشش دا و چې په همغه لومړيو وختونو کې خود جوشه راپورته شوي مجاهدين په خپلو ليکو کې جذب کړي ، په لومړيو وختونو کې هم د آی ايس آی په مداريتوب امارت په دې وتوانيده، خو عمر له همغه پيله امارت پيژندلې و ، چې د آی ايس آی له مردار ډنډ څخه خړوبيږي او په دې صف کې د قربانۍ نتيجه به داسې شي لکه دا اوس چې ده ، نو ځکه يي ترې ځان ساتلو ، امارت به هغه وخت عمر ته ويل چې د خپلو

بريدونو راپور بايد دوۍ ته ورکړي ، په زياتو امتيازاتو ورکولو يي هم کوشش کاوه چې عمر په خپل دام کې ونښلوي ، عمر به چې په سېمه کې کوم جواسيس او مرتدين ونيول نو امارت به ترې د خوشې کولو غوښتنه کوله ، عمر وايي يو ځل مو د سېمې له څو مرتدينو څخه موټرونه ونيول چې له کوز اسلام اباده امر راغې چې دا موټرونه ورته وسپارئ او موږ هم کله ، کله په دې خاطر د امارت اطاعت کاوه چې ګوندې مجاهدينو ترمنځ نفاق پيدا نه شي او د امارت په خباثتونو به اخر مخلص مجاهدين پوهه شي وايي هغه موټرونه مو خوشي کړل بيا چې خبر شو نو کوز په پيښور کې د همغې موټرونو له خاوندانو پيسې اخستې وې ، يو ځل مو د انتخاباتو ټوله پروسه په سېمه کې ګډه وډه کړه ، له کوزه امر راغی چې مشران وايي انتخاباتو ته اجازه شوي غرض ورسره مه لرئ ، خو وايي چې ماته عجيبه ښکاره شوه چې څنګه داسې شرکي پروسې ته اجازه شوې همغه و چې دا امر مې ونه مانه موټرونه مو وروسيزل او د انتخاباتو ټول جريان مو فلج کړ ، په دې جنګونو کې عمر د دهشکې په مرميو سخت زخمي شو ، چې بيا د نورو امارتي اجيرانو په څېر پاکستان ته تدواۍ ته ولاړ نه شو بلکې همدلته يي په ډيرو سختو حالاتو او مشکلاتو کې خپل علاج وکړ او الله صحت ورکړ ، چې له همدې وروسته نو امارت د عمر سره تربګنې پيل کړه او کوشش يي کاوه چې څنګه د عمر مخه ونيسي .
خو د عمر کاروان ورځ تربلې غځيده او اوس نو د مجاهدينو تحرکات يواځې د هسکې مېنې په حدودو کې محدود نه و بلکې د روداتو تر ولسوالۍ حصارشاهي سېمې پورې وغځيدل او په پاخه سرک به يي په رڼا ورځ تحرکات کول او چک پواينتونه به يي اچول ، د حکومت ساه يي راتنګه کړې وه ، يو ځل د هسکې مينې امنې قومندان عمر ته ځواب راوليږه چې د الله خاطر وکړه ولې مو شرموې ، ولسونه يي ستا موږ نه درکيوزو خو ته نور سرک ته مه راخيژه ، خو عمر ورته بيرته ځواب ورکړ چې له ولسونو

مې ستا تغر په زور درټول کړې او ولسونه خو هسې هم زما دي او که زور لرې نو له سرکه راکیوزه ، ولسوالۍ او نورو یو څو محدودو پوستو ته به چې کله دښمن اکمال کاوه نو د درې سوه څلور سوه په شا او خوا کې په موټرونو مشتمله قوه به راتلله چې ډېر کله به مات ګوډ بیرته ستنیدل .

امریکایانو مخکې هم عمر پسې د خپلو جاسوسانو په مټ ډېر زور وواهه خو کله چې د عمر د نفوذ ساحه پراخه شوه نو امریکایانو د عمر د وژلو پسې پوره مټې رابډ وهلې او د ډېر سخت څار او تعقیب لاندې یې ونیوه ، بې شمیره جواسیس یې پسې راخواره کړل یو ځل د امریکایانو ټانکونه ګورګورۍ ته راغلل ، دغه وخت عمر سره کوم ملګري نه و او عمر په شابیو کې و ، د امریکایانو کتار په هارون بابا اوختلو او د پچیر په لار بیرته وتلو ، عمر ورته ځانته مخې ته وروتلې و، پیکا ورسره وه ، د امریکایانو سره یې نښته کړې وه ، دغه وخت هلې کفترې رارسیدلې وې او هغه ساحه یې ټوله د څار لاندې نیولې وه ، عمر خپله پیکا د بربړې په نوم یو ګڼ بوټې کې ننویستې وه او همداسې ناست و ، جیټانواو هلې کفترو پرې ډېرې غوټې ووهلې خو پیژندلې یې نه و او الله نجات ورکړ، امریکایانو په زیاتو ډرونونو او چاپو د عمر کاروان زیات ملګري شهیدان کړل ، خو عمر کاروان ته به الله نجات ورکاوه .

عمر کاروان په هسکه مېنې ولسوالۍ کې د پخوانیو بدماشانو او زورواکانو هغه دبدبه او غرور هم ور خاورې کړې و ، دلته زیاتې داسې کورنۍ اوسېدې چې د سېمې خلک یې خپل بنده ګان ګڼل چې یوه یې هم د ملوک او خیبر کورنۍ وه ، دغه ملوک په څو روپو یوه ښځه او درې ماشومان وژلي و خو په سېمه کې به سرې سترګې ګرځیده ، د امارت له لومړۍ واکمنۍ مسلح و او بیا د جمهوریت په دوران کې زور او ظلم نور هم زیات شو خو عمر کاروان لومړۍ کس و چې دا خلک یې خالي سلا او له زوره پریستل ، همغه و چې د همداسې کورنیو له ډلې د یوې کورنۍ یو لوفر چې په خیبر مشهور و د یو بل امریکایي جاسوس سره غوږ جنګولې و، هغې ورته د ډرون د برید د ترصد لپاره پترې ورکړې و چې د عمر په موټر کې یې کیږدي او له عمر څخه خپل غچ واخلې ، دغه وخت به عمر په یوه تور رنګ کرولا موټر کې ګرځیده ، جاسوس په همدې تور کرولا موټر کې پترې په ځای کړې و ، تصادف داسې و چې عمر سره ګرځیدونکې ملګرې به یو ډاټسن موټر کې له دې مخکې ګرځیدل په دې ورځ یې ورته ملګرو ویلې و ، چې ته به نن دا کرولا موړ ته راکوې او ته به ډاټسن اخلې ، ده هم ورته ویلې و چې سمه ده ښنګه ستاسې خوښه وي ، همغه و چې عمر ترې په ډاټسن کې له دوی وړاندې لوړې مېنې ته ختلې و او څلور تنه ملګري یې ماښام ورپسې په کرولا کې ور روان و کله چې موټر له ګورګورۍ وتلې د لوړې مېنې او ترخانې په طرف ورتاو شوې او مدرسې ته رسېدلې نو ډرون پرې ګذار کړې ، څلور تنه مخلص مجاهدین د امریکایي وحشیانو د وحشت په لمبو کباب شول دا هغه وخت و چې په افغانستان کې د ډرون بریدونه بیخي نو نوي پیل شوي و .

په سبا د همدې سوزیدلو مجاهدینو د جنازې لمونځ په ګورګورۍ کې اداء شو چې له حده زیات خلک ورته راغلې و، عمر یې هم په جنازه کې شرکت کړې و کله چې جاسوسانو وکتل چې عمر خو بچ دې نو بیا یې ورپسې ترصد شروع کړ چې عمر شپه چرته کوي ، عمر د شپې له یو ځاې څخه وتلې و او بیآ نو په همغه شپه په همغه طرف چاپه راغلې وه چې نور مجاهدین یې په شهادت ورسول او عمر ته بیا الله نجات ورکړ ، امریکایانو په عمر پسې د خپلو جواسېسو شمیر زیات کړ په هره لار او هر ناو کې به ورته ناست و ، یو ځل عمر کاروان سره د څو تنه ملګرو د خپل پلارني کلي انګور کلا څخه راووت ښنګه چې د ترخانې سپیره ډاګ ته یې موټر راورسید نو ورسره جوخت څلور امریکایي هلي کفترې راورسېدې او په رڼا ورځ یې په عمر کاروان له څو لوریو هوآیي بریدونه پیل کړل ، عمر او ورسره ملګري یې نیږدې دوه خالي د شپنو په کوټو ننوتل ، امریکایان ورته پلي شول ، او دوۍ یې محاصره کړل په یوه کوټه کې اوه تنه راټول و ، کله به چې امریکایان د بام سر ته وختل نو عمر او ملګرو به یې له لاندې څخه پرې ضربې کولې او کله به چې کړکیو ته راغلل هم ډزې به یې پرې کولې ددوۍ له ډلې د شیخ زاهد په نوم د عمر کاروان د معسکراتو استاد او قاضي او د خالد په نوم یو بل مجاهد شهیدان شول ابو زاهد تقبله الله ډېر پوهه ، عالم او مخلص شیخ و ، ابو زاهد د امارت په نواقضو او خباثتونو د عمر د کاروان د لارویانو سرونه ښه خلاص کړې و ، دغه وخت په عراق او شام کې اسلامي خلافت هم اعلان شوې و ، او ابو زاهد به همدا دعا کوله چې ددې دولت سیورۍ تر خراسانه راورسیږي ، خو د ابو زاهد د ارمان هغه وخت ترسره شو چې نوموړې شهید و، له شهادته یوه ورځ وړاندې یې ټول مجاهدین راټول کړې و او ورته یې بیان کړې و ، چې په عراق او شام کې د موحدو مجاهدینو په نبوي منهج مزین خلافت اعلان شوی دی او له دې وروسته د استخباراتي کړیو مهار شویو تنظیمونو کې پاتې کیدل په هیڅ صورت روا نه دي ، نو په کار ده

هغه کرولا موټر چې په لومړي ډرون برید کې د عمر څلور ملګري په کې شهیدان شول

چې اسلامي خلافت سره بيعت وکړو ، خو هغه وخت نو عراق او شام ته رسيدل او يا ورسره رابطه کول ډيره مشکله وه ، نو د ټولو ملګرو څخه يې غيبانه بيعت اخستی و ، او دا د عمر ستر ارمان هم و لنډه دا چې په دې چاپه کې د عمر کاروان په شمول پنځه کسه مجاهدين سخت زخميان شول ، امريکايانو فکر وکړ چې دوی ټول ختم شوي دي نور نو هغوی ترې تللي و او بيا دوی په زخمي حالاتو کې د سېمې خلکو له هغه ځايه ويستلي و ، په دغه چاپه کې بيشميره امريکايي درنده ګان وژل شوي و ، خو د عمر زخمونه ډير ژور و ، د پښې پله يې هم شکيدلي وه ، د اوغز په دره کې پروت و ، نه يې کوز ښار ته د تللو چانس و او نه لکه د نورو امارتي مشرکينو پاکستان ته د تداوۍ لپاره تللو ، دښمن دا ځل مطمين شو چې عمر يې ختم کړ ، نو د اوغز درې منافقانو ملکانو سره يې خبره وکړه چې موږ درځو ، د اوغز د درې چکر وهو ،اکثره وخت ډيری ملکان تل د مجاهدينو په خلاف خپل چانس له لاسه نه ورکوي ملکانو ورته پسه حلال کړ او ورسره يې ومنله د دښمن مظبوطې قوې د اوغز په طرف حرکت وکړ، دغه وخت په ګورګورۍ کې د امارت پنځه دلګي کسان موجود و خو په قوه يې يو ډز هم ونه کړ ، قوه چې د اوغز په طرف بې ډاره راروانه وه ، دغه وخت عمر سره د ګوتو په شمار ملګري و ، څه د قوې مخ ته لاړل او څه عمر سره پاتې شول چې هسې نه قوه رازوروره شي او يا هم د امارت خبيثان عمر ته څه زيان ورسوي عمر ملګري د قوې مخ ته ورولېږل ، قوې سره سخت جنګ وشو ، چې مجاهدينو کټل عمر په يو موټر کې په همدې زخمي حال کې شاته راغی او خپلو ملګرو ته يې قومانده ورکوله ، چې دې سره د مجاهدينو مورال لا زيات شو او بيخي ټانګونو سره يې لاس په لاس جګړه وکړه او قوې د الله په فضل شکست وخوړ ، عمر چې دا ځل هم خلکو وکتلو نو بيخي حيران شو ، او دښمن هم سخت ويرې واخست ، دغه وخت د عمر سره د امارت اختلاف ورځ تربلې زياتيده ، د امارت کميسون ورپسې جوابونه کول چې يو ځل پاکستان ته ورشي خو عمر ورته ويل چې پاکستان ته نه ځم ، که مې غير شرعي کار کړی وي ، نو دلته مې محاکمه کړئ خو د آی ايس آی محکمې نه شم منلې ، د عمر زخمونه څه ناڅه رغيدلي و خو بيا هم پوره جوړ نه و، خپل کلي کلا ته اوختې و، خو جاسوسان ترې نه کلاريدل ، دښمن غوښتل د عمر کره مالومات ترلاسه کړي يا پرې بمبار وکړي او ياپرې چاپه ووهي ، نو د عمر د معلوماتو لپاره يې يو جاسوس د عمر دوی کلي ته په دې بهانه استولی و چې دغه جاسوس د عمر دوی په کلي کې د عمر پوښتنه کړې وه چې عمر چرته دې زه راغلی يم عريضه مې ورته راوړې ده ، ماسره مې ورونه ظلم کوي ، چې عمر مې پوښتنه وکړې ، په همدې کس د عمر ملګري شکمن شوي و او بيا يې چې ترې تحقيق کړې و نو نومړې کس جاسوس و چې دده له طريقه شپږ کسه نور جاسوسان هم رسوا شول ټول دولس کسه و ، شپږ يې سره له کورونو ښار ته وتښتيدل او شپږ نور يې مجاهدينو ونيول، په نيول شويو جاسوسانو کې د خيبر په نوم جاسوس هم موجود و ، چې له دې مخکې يې په مجاهدينو ډرون بريدونه هم ترصد کړې و ،خيبر ډير شتمن و او د يوې بدماشې او شتمنې کورنۍ کس و ، يو ورور يې د اختر په نوم امارت سره اوس هم دی او د اسلامي خلافت سره په دښمني کې يې پوره کارونه کړي ، دوی ټولو په خپلو جرمونو اعتراف وکړ او دا يې هم منلې وه چې دغه کس يې د عمر د مالوماتو لپاره د دوی کلي ته استولی و او غوښتل يې چې په عمر بيا چاپه ووهي ، اختر د خپل ورور خيبر لپاره د امارت کميسون سره په اتيا لکه کلداري خبره کړې وه ، چې که نومړی يې له عمر څخه اذاد کړ نو اتيا لکه کلداري به کميسون ته ورکوي ، کميسونو عمر پسې ډير جدي امر راواستاوه چې دغه نيول شوي کسان ټول امارت ته وسپاري ، خو عمر ورته ځواب ورکړ چې دا زما د ملګرو قاتلان دي او زه څه ليونی نه يم چې دا تاسې ته ددې لپاره وسپارم چې تاسې په دې قاتلانو پيسې واخلئ او بيا يې په عزت رخصت کړئ ، د سېمې خلکو هم دا فکر کاوه چې که نور نه وي نو ممکن خيبر خوشې شي ځکه چې خيبر ډير شتمن هم و او ورور يې هم په امارت کې مطرح کس و او کورنۍ يې هم د سېمې په کچه زورره کورنۍ وه ، په نيول شويو جاسوسانو کې هم ډيرې پّه دې نظر و چې ممکن خيبر خوشې شي ، نو يو جاسوس ويل که خيبر يې ذبحه کړ زه خپله چړې ته څملم ، او بيا يې همغسې وکړل ، عمر هم له ټولو بې پروا ددغه خلکو څخه اعترافات واخستل او بيا يې د ګورګورۍ په ډک بازار کې په رڼا ورځ په خپل لاس ذبحه کړل دا لومړې ځل و چې په افغانستان کې داسې په ښکاره شکل جاسوسان ذبحه شول ددغه صحنې ويډيو هم خوره شوه ، نو امارت سخت کرکې او غصې ونيو او له همدې سره سم يې عمر باغي اعلان کړ .

عمر يې کپسه کې نه و او ويل به يې چې باغيان هم دوی دي چې د آی ايس آی په قيادت کې د ورک ملا عمر په نوم په موږ خپل فرامين عملي کوي ، عمر دوه درې مياشتې د خپلو ملګرو ذهنيت سازي وکړه او ملګري يې له دې مخکې هم ابو زاهد تقبله الله د اسلامي خلافت په عقيده او منهج تيار روزلي و ، عمر د امارت سره د ټکر څخه ډير ځان ساتلو ، دغه وخت اسلامي خلافت سره د نړۍ له لر، بره مخلصو مجاهدينو بيعتونه کول او د نړۍ په ګوټ ، ګوټ کې د اسلامي خلافت ولايتونه اعلانيدل ، عمر او ملګرو يې هم په ډيره بې صبرۍ ددې ورځې انتظار کاوه چې کاش ! خراسان هم د اسلامي خلافت د يو ولايت په حيث اعلان شي ، همغه و چې درې مياشتې وروسته (تور درې) ته د مختلفو تنظيمونو څخه مخلص قومندانان او مجاهدين ټوليدل او غوښتل يې چې اسلامي خلافت سره خپل بيعت اعلان کړي ، عمر هم خپل دوه ملګري ورواستول ، هلته يې حافظ صيب سره ملاقات شوي و، حافظ صيب يې ډير قدر کړې و او عمر ته يې خپل ټوپک هم را استولی و او ورته يې پيغام راليږلي و چې يو ځل زما خواته راشه ، عمر هم سره د يو څو ملګرو (تور درې

تخرج دفعة من جند الخلافة في خراسان

) ته په ډیره خوشالۍ وخوځید ، باندر ته چې رسیدلې و نو هلته یې ملګري سخت وږي شوې و ، هلته یې یو ځآې ډوډۍ خوړلې وه او همدلته عمر خلکو پیژندلې و ، کله چې له باندره وتلې و نو په لاره کې امریکآیي ډرونونو رایسار کړي و او ګذارونه یې پرې کړې و چې په دې بریدونو کې یې د شیخ صیب محمدیګل او ظفر په نوم دوه ملګري شهیدان شوې و او د عمر د ورور طلحه په ګډون څو کسه ملګرې یې زخمیان شوې و عمر ته بیآ الله نجات ورکړې و، عمر خپل سفر نه و ودرولې بلکې عمر د خپل لوړ هدف منزل ته په خپلو مظبوطو او نه راستنیدونکو قدمونو پر مخ روان و، اخر هم د حافظ صیب خواته یې ځان رسولې و ، هلته نو بیا ډیر زیات خوشاله شوې و څه ډول چې د عمر او ملګرو یې ارمان و او د څه لپاره چې عمر د سپین غر په لمنو کې په سختو طوفانونو کې د اذادۍ ډیوه بله ساتلۍ وه نو همغسې یې د خپل کاروان لارویان وموندل ، بیعت یې کړې و او بیرته د افغانستان د بیعتونو د مسول په حیث خپلې سیمې ته راستون شو ، دغه وخت امارت هم په دې سېمو کې د اسلامي خلافت له تحرکاتو خبر شوې و او کوشش یې کاوه چې مخلص مجاهدین اسلامي خلافت سره له بیعتونو

راوګرځوي خو دې د سپین غر زمري د امارت د زرګونو کسانو په منځ او زور کې په داسې حال کې چې اتلس کسان ورسره و ، داوغز او ترخاڼي ترمنځ په لومړي ځل په دغه باعظمه غرونو کې د توحید تور توغ پورته کړ مجاهدینو د خوشالۍ ډزې وکړې او دلته ولاړو د امارت کسانو او دلګي مشرانو عمر ته کړل چې ډیر ستر اقدام دې وکړ او دا به درته ډیره سخته تمامه شي ، خو عمر د ډار په ورځ نه و پیدا .

همغه و چې د افغانستان له لر سره تر بره له ټولو ولایتونو په سلګونو کسان د اوغز په دره رامات شول او د بیعتونو سلسله په ډیره تونډۍ روانه وه ، عوامو هم په خپله خوښه بیعتونه کول او له مختلفو سېمو زیات مجاهدین هم راروان شول ، شیخ مقبول (شاهد الله شاهد) ګل زمان فاتح ، جهادیار او ځینې نور مشران ملګري اوغز ته راغلل دلته یې په نظم جوړولو او مجاهدینو ته په شرعي دوره پیل وکړ ، دغه وخت نو آی ایس آی خطر احساس کړ او امارتیانو ته یې امر وکړ چې د مجاهدینو مخه ونیسي ، مجاهدینو د امارت سره له جګړې ډیر ځان ساتلو دغه وخت امارت د اسلامي خلافت زیآت ملګري هم ونیول او اسلحې یې هم ونیولې اخر مجاهدین مجبور شول چې له ځان څخه دفاع وکړي ، مجاهدینو په

مامند برید وکړ ددې برید قومانده د عمر په غاړه وه ، مامند فتحه شو ، زیات شمیر مجاهدین مامند کې راټول شول ، عمر بیرته هسکې مېنې ته راواوښت وروسته نو بیا د امارتیانو سره جنګونه ګرم شول ، امارتیانو بیا له ټولو لوریو اشرونه وکړل او په زرګونو کسان یې راټول کړل امریکایي طیارو یې هم ملاتړ وکړ ، د مامند په غرونو کې د اسلامي خلافت د مشرانو شیخ مقبول ، ګلزمان ، جهادیار او نورو په شمول تر شپیتو پورې کسان د جیټ په بمبار شهیدان کړل ،د مامند او نورو سېمو خلکو هم پاڅون وکړ، د مهاجرینو د زنانه و بېعزتي یې وکړه او ګڼ ماشومان او سپین ږیرې یې په تبرونو او برچو شهیدان کړل ، مجاهدین اخر هم تختو ته ټول شول او عمر د سپین غر لوړې څوکې ته په ختلو اړ شو ، هلته سره له ملګرو څو ورځې یې په نهره وکړې اخر هم بیرته الله عزوجل مجاهدینو ته توفیق ورکړ او په ټولو سېمو یې بیرته واکمن کړل او امارت په زرګونو شنې او سرې قطعې څه په تړو کې مرداران او څه په تیښته بریالۍ شوې ، او لکه د مرکخیلو او وادې حصار په درو کې چې تړې څنګه په وروستیو جنګونو کې سرونه او اسلحې پاتې وې دغسې هغه وخت هم د هسکې مېنې تړې د امارتي مشرکینو په جسدونو ډکې وې .

بیرته نو په اوغز گورگورۍ مامند، باندر ، پیښه ،نازیان ، کوټ او نورو سیمو د توحید تور توغ رپاند شو ، کتیبې منظم شوې او ورځ تربلې د اسلامي خلافت د مختلفو ادارو نظم پیاوړي کیده ، دغه وخت د امارتیانو او افغان مرتد حکومت سره سخت جنگونه اکثره عمر رهبري کول .

په خراسان کې د اسلامي خلافت ظهور امریکا سخته وارخطايي سره مخ کړه او د عمر کاروان پسې یی خپل زور یو په لسه زیات کړ ، یوه ورځ چې عمر له گورگورۍ څخه د خپلو درې تنه نورو ملگرو سره یو ځای د خپل یو کلیوال په ډاټسن موټر کې بره خپل کلي ته ختلو ، ډاټسن ته هم عمر ناست و نو جاسوس خارلې و ، کله چې ډاټسن د انگور کلا په سختو پیچومو ورسمه شوه نو په هوا کې امریکایي ډرون راپیدا شوې ، کله چې ډاټسن موټر یو سخت موړ کې تاویده نو همدلته پرې ډرون برید کړې و موټر کې اوړه هم بار و ، موټر اور اخستي و ، د عمر دوه تنه ملگري په داسې حال کې چې زخمیان و کالو او ویښتو یې اور اخستي و ،هغوۍ له موټره دانگلي و او نیږدې د څیریو لاندې پټ شوي و ، عمر کاروان سخت زخمي و او په سیټ کې ایسار شوي و د هغې ویښتو او کالو هم اور اخستي و اخر له دې یرې چې یا ډرون بل گذار ونه کړي او یا هم ددې د جامو اخستي اور ددې سره په شاجورونو او بې شمیره گرنټونو ډکې چانټې ته راورسیږي او دا پرې راوچوي نو کلیمه یې ویلي وه او په سخت زخمي حال کې یې د موټر په شیشه گذارونه کړې و شیشه یې ماته کړې وه او همداسې په پروت تري وتلې و له ځانه یې اور مر کړې و او بیا دوه ساعته پراته و او وینې تري بهیدې ،اخر چې ډرونونه ورک شوي و، له کلي څخه وریسې کلیوال ورغلي و او دوۍ په زخمي حالاتو کې را انتقال کړي و .

د عمر زخمونه ډیر ژور و ، دا ځل یې هم ښار ته ښکته کیدل ناممکن و ، او د امارتي ملیشو په خبر یې پاکستان ته انتقال خو بیخي دا ځل نور هم سخت شو ځکه چې اوس خو د نړیوال اسلامي دولت په بیعت کې و او پاکستان سره یې ښکاره د جگړې اعلان او پیل کړې و ، پنځه شپږ میاشتي له زخمونو سخت وکړید اخر هم د اسلامي دولت لمن کې یې د اوغز په دره کې د یو تکړه ډاکټر له لوري عملیات ترسره شول ، له دې وړاندې چې یې کوم ډاکتران له ښار څخه لیدلو ته راغلي و نو هغوۍ ورته ویلي و چې دده عملیات باید د ښاري امکاناتو په درلودو سره د ښار په معاصرو روغتونونو کې متخصص ډاکتران وکړي او دلته په غرونو کې هیڅ امکان نه شته چې ددې عملیات کامیاب شي ، خو همغه و چې الله عزوجل یې په غرونو کې عملیات کامیاب کړل .

په عمر کاروان مسلسل د چاپو او بمباریو او افغان مرتدینو ، امریکایانو او طالب مشرکینو سره د سترو او ورو جگړو د زخمونو او کیسو داستان ډیر اوږد دي چې دا ټول په دې لیکنه کې راټولول د لیکنې له برداشته بهر ده چې دا ټول جزیات به بیا دده په اړه ځانگړي ناول کې واضح شي ان شاء الله.

لنډه دا چې عمر کاروان د خپلې قیمتي ځوانۍ او عمر زیاته برخه د جهاد په اغزنو لارو په سختیو او کړاونو کې په مزلونو تیره کړه ، امریکایان یې په هیڅ صورت پریښودونکي نه و ، تل به جاسوسان لکه د سیوري ورپسې و ، د عمر کاروان د جهاد پروره کورنۍ قرباني او ثبات له هیچا څخه پټ نه دی ، له کاروان څخه مشر ورور حمزه تقبله الله هم د جهاد په لاره کې خپل روح الله ته سپارلی و ، کورنۍ یې په دې لاره کې ډیرې سختې او کړاونه وگالل ، کله چې په وروستیو کې د اسلامي خلافت د قوي نظم په صورت کې جواسیس په ډیره سخته خپلو اهدافو ته رسیداي شول ، خو بیا هم امریکایي درنده گانو د عمر کاروان شا نه پریښوده او دا ځل یې د عمر د وژلو لپاره د عمر خپل پخواني ملگري او د عمر د خور خاوند (وکیل) وگماره ، وکیل چې په ابوبکر مشهور و ، د ننگرهار محبس کې بندي و چې هملته یې امریکایانو روزنه کړې وه او په عمر د جاسوسۍ په موخه یې له زندانه اذاد کړ ، خو عمر او نورو مجاهدینو ته مالومات نه و چې دا د لستوني مار د څومره خطرناکو ارادو سره د عمر څنگ ته ځان ورساوه ، وکیل چې د عمر تربور هم و ، له زندانه وروسته یې ځان د عمر څنگ ته ورساوه عمر یې ښه استقبال وکړ او بیا

يې د تېر په څېر ځان سره ملګرى کړ ، لږه موده وروسته وکيل د خپلو زهرو پاشل شروع کړل ، لومړي ډرون ګذار هغه چې وروسته بيا ښکاره شو په انګور کلا کې د اسلامي دولت په اور ژبي شاعر شبير احمد محسن او د عزام په ورور او زوی شوکت الله او سباون تقبلهم الله وکړ ، وروسته يې د عمر دوی په حجره د ګذار لپاره جاسوسي وکړه چې دغه وخت په حجره کې تر لسو پورې مجاهدين موجود و چې ددې ډرون د بريد جاسوسي هم وکيل کړې وه چې په دې بريد کې د نورو مجاهدينو ترڅنګ د عمر کاروان کشر ورور فريد هم په شهادت ورسيد .

خوپه دې سره هم د وکيل د کينې اور مړ نه شو ، بلکې د يو څو ډالرو په خاطر يې غوښتل نه يوازې دا چې د عمر ټوله کورنۍ له منځه يوسي بلکې د نورو عامو مجاهدينو تر څنګ يې په مشرانو پسې هم جاسوسي کوله په وکيل د هيڅا شک نه راتللو ځکه د عمر ملګری و او د عمر د ورورونو لاندې پټ و، وکيل غوښتل چې د عمر کاروان د ورونو او پلار له وژلو وروسته بيا په کلاره د عمر چاره هم وکړي ، په عمر يې د چاپې او بريد لپاره هم موقعه کتله ، لږ وخت پس يې د عمر کاروان پلار حاجي جانداد چې مجاهدينو کې په ابو عمر مشهور و د مجاهدينو خادم او مخلص سپين ږيری و ، وکيل نومړي د خپل هدف لاندې ونيوه .
حاجي جانداد (ابو عمر) په سېمه کې

يو پېژندل شوی قومي مشر و، چې د سپين غر په لمنو او درو کې د اسلامي خلافت د مهاجرينو او مجاهدينو سره هر راز هر اړخيزې مرستې او کومکونه کول او د خپل زمري زوی عمر لاس يې ډېر پخوا د جهاد لپاره اوزګار کړی و او د کورنۍ ټول بوج او غمونه يې همده برداشت کول ، امريکايانو غوښتل چې د عمر له شا دا مظبوطه تکيه هم ونړوي ځکه يې نو خپل جاسوس وکيل ته حاجي جانداد هم ورپه ګوته کړ ، همغه و چې وکيل په ډېره بې رحمۍ د خپل خسر ابوعمر جاسوسي هم وکړه او نومړی هم د ډرون په يو بې رحمه بريد کې په شهادت ورسيد .

وکيل چې تر څو په عمر د ګذار لپاره موقعه کتله تر هغې يې د شرافت شفق، زيد ، حکمت الله او صابر تقبلهم الله په شمول په ډېرو مجاهدينو جاسوسي وکړه او د ډرون په بريدونو کې يې په شهادت ورسول ، د وکيل د وحشتونو د داستان تفصيل به هم د عمر کاروان په اړه په ليکل شوي ځانګړي ناول کې ذکر شي .

وکېل په ډېر مهارت جاسوسي کوله يو ځل عمر او ورسره يو بل ملګري له خپل کلي څخه وزيرو ته تلل بايد وکېل هم ورسره تللی وای، خو وکېل بهانه وکړه او ولاړ نه شو، څو ورځې وروسته چې عمر او ملګري يې په ډېر خفيه ډول بيرته خپل کور ته راستانه شول نو په کلي کې نور خلک څه چې خپل نيږدې ګاونډي تري هم خبر نه و چې عمر بيرته راستون شوی دی ، يوازې وکېل ته مالومات شوي و ، ځکه د وکيل څخه د عمر يو حرکت هم پټ نه و او په وکيل لا تر دې دمه هېڅوک شکمن نه و، وکيل نور خپل کار کړی و د عمر د کور او خوا شا نور زيات مجاهدين يې په امريکايي ډرونونو او چاپو شهيدان کړي و، اوس يې نو عمر ته دام کيښود ، خپل باداران يې خبر کړي و، چې عمر په کور کې دی او د هغې کوټې ادرس يې هم ورکړی و چې عمر په کې اوسيده ، د عمر سروکار د امريکآيي ډرونونو سره و ، د دوی د هر حرکت څخه ورته تر ډېره د هغوی د مقاصدو مالومات کېده ، څو ورځې کېدلې چې د عمر په کلي له حسابه تير ډرونونه او ځارګري الوتکې ګرځېدې عمر ماښام ورسره ملګري ته وويل چې نن شپه تر ډېره د چاپې امکان دی او بايد چې ووځو ، وکيل پسې يې خواب واستاوه چې د عمر څنګ ته ورشي خو وکيل په دې شپه

فريد د عمر کاروان ورور - تقبله الله تعالى

پوهیده چې د عمر څنګ کې خطر دې نو امر یې ونه مانه او ولاړ نه شو ، عمر او ورسره ملګري یې له ماښامه وروسته ډیر په پټه له کوره ووتل او کور ته مخامخ یې له خوړ پورې د څیړیو په یو ګڼ ځنګل کې سمځه وه هلته چې څنګه ورسیدل نو چارماشینه طیارې د دوی کلي ته راورسیدې او بیا یې دایره واچوله ، بیا یې نو د هغه وخت تر ټولو ستره چاپه ووهله ، په ډیر وحشت یې ټول کلي بمبار کړ چې په هغه بمبارونو کې د ښځو او ماشومانو په شمول پنځه دیرش کسان شهیدان شول ، کله چې پیدل مرتدین او امریکایان د عمر کور ته ورداخل شوې و نو نیغ همغه کوټې ته تللې و په کوم کې چې عمر اوسیده ، د کور له غړو یې پوښتې و چې عمر تر ماښامه همدې کوټه کې و څه شو ؟

مطلب تر ماښامه دوی په دې باوري و چې عمر په دې کوټه کې دې، په هر صورت له چاپې وروسته عمر ورسره ملګري ته وویل چې نور په کلي کې اوسېدل نه کیږي او باید ووځې ، یو ځل بیا یې وکیل پسې ځواب واستاوه چې راشي او ووځو خو وکیل بیا بهانه وکړه او رانغې ، دوی له خپل کلي ووتل او د(درې ناوه خوله) په نوم ددوی کلي ته مخامخ یوه ساحه ده چې همغلته ددغه درې ناوه په لمن کې د نښترو او لمنځو یو ګڼ ځنګل و ، دغه ځنګل کې پخوانی معسکر و ، د هغه وخت وړې کوټې اوس هم موجودې وې ، عمر دغه ځای ته ولاړ ، څو ورځې وروسته وکیل هم له خپل کلي کور د پونګو ساحې ته یوړ د پونګو د ساحې او ددې معسکر ترمنځ تقریبا یو ساعت لار ده ، او پرته له دې چې وکیل چا خبر کړې وي ، هغه پوهیده چې عمر معسکر کې دی ممکن پټ یې ځارلې و ، بیا یوه ورځ وکیل د عمر څنګ ته تللې و ، لږ وخت وروسته ترې بیرته خپل کور ته ستون شوې و ، ماذیګر دوه نور ملګري د عمر خواته تللې و ، هغې ملګرو ته عمر ویلې و چې نن وکیل راغلې و، له راتللو مخکې یې دغه بره څوکه کې ډرون ګذارونه وکړل ، وکیل وروسته دلته راغې یوه شیبه ناست و بیرته لاړ ، وروسته چې بیا مالومات وشول په هغه څوکه د خلافت غږ راډیو دوه همکاران ډرون ویشتلې و ، چې هغه طرف هم وکیل ته مالوم و ، په همدې شپه کروزونه راغلل او په کومه کوټه کې چې عمر و دا کوټه جوخته ولګیده په نورو کوټو کې هم د عمر ورور طلحه ، یو بل اوښې یې صدیق د عمر خسر او شاهد و ، د نورو کوټو څنګونه هم لګیدلې و خو نور کسان الله ساتلې و ، عمر لومړې زخمي و ، بیا یې ملګرو لاندې همدې ځنګل کې راښکته کړې و ، وآیي لومړې خه بیداره و ، له ملګرو یې ښښنې غوښتې چې زیات تکلیفونه مو راسره ویستلي دي ، سحار وختي یې یو ملګرې د دوایي او ډاکټر پسې کڅونو ته استولې و ، چې د کڅونو او معسکر ترمنځ څو ساعتونه لار ده ، ملګرې یې وایي زه په پونګو لاړم چې هلته وکیل خبر کړم چې یو کچر پیدا کړي او عمر پسې ورشي او رابار یې کړي ترڅو د کڅونو روغتون ته یې راولي موږ به ورته بیرته په لاره په مخه راشو ، خو وآیي چې راغلم نو وکیل تیار غوږ په اواز ناست و ، چې له پیښې مې خبر کړ ، نو بیخي یې په رنګ او حواسو کې هیڅ تغیر رانغې ، ورته مې وویل زر ځان ورسوه چې د عمر څخه وینه روانه ده چې په وخت یې غم وشي ، خو وایي وکیل خه په ارام چاې څښلې و او ښه قصدي یې په ځان ناوخته کړې و ، تر څو چې وکیل ور رسیده نو د عمر سره شته هلته ملګري کېسه کوي چې وکیل راورسید همدغه وخت عمر خپل روح الله ته وسپاره .

انا لله وانا الیه راجعون .

هو !

هغه د ننګونو غر او فولادي کمر اخر هم راونړید، دا دسپین غر زمرې چې په ځلونو زخمي شو چې وخت یې نه وه پوره ،بیرته ورغید او بیا د سپین غر په ناونو او لمنو کې د اسلام د دښمنانو په خلاف وجنګید خو کله یې چې اجل راغې نو دا د شهادت ارمانجن کاروان اخر هم د شهیدانو د کاروان سره ملګرې شو .

څو ورځې وروسته د اسلامي دولت امنیت اداري وکیل ونیوه ، چې له څه وخت وروسته د یو بل جاسوس په مرسته له زندانه وتښتید ، خو د اسلامي دولت د زمرو او د عمر کاروان د روزل شویو سربښندویانو څخه یې بیا هم نجات ونه موند او ډیر زر یې د خپل منحوث عمل په سزا ورساوه چې لله الحمد په دې سر ، سر یې وویشت .

تور بیرغه

”

په تا مو ځار کړې ګل ځوانی تور عقابي بيرغه
رپاند رپاند شه په نړۍ انقلابي بيرغه

ته د ثبات د شجاعت او خلافت نښان يې
خوږمنو زړونو ته پټۍ يې سم دستي بيرغه

دې تورتمونو تورو شپو ته سپين سحر راوله
زولنې ماتې کړه چې راشي آزادي بيرغه

مونږ د خپل رب سره دا عهد او وعده کړې ده
تا رسوو به تر اقصا محمَّدي بيرغه

د هر مومن او مؤحد د سوي زړه ارمان يې
په هر کافر، مرتد ګوزار کړې په تندي بيرغه

څو چې ژوندی وي تا به نه پرېږدي شعيب مهاجر
درپسې کاندي به رنګينه شاعري بيرغه

مختصر

سِيرَةُ النَّبِي

صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ

الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على سيد الأنبياء والمرسلين وعلى آله وصحبه ومن تبعهم بإحسان إلى يوم الدين، أما بعد:

عزتمندو مسلمانانو ورونو!

د لوي الله په توفيق سره پدې سلسله کې به د محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم مبارک سيرت بيانيږي. هغه نبي چې الله عزوجل زمونږ ستاسې هدايت لپاره راليږلى دى، او د هغه په اړه يې په خپل کتاب کې دا اعلان کړى دى:

{لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِمَنْ كَانَ يَرْجُو اللَّهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ اللَّهَ كَثِيرًا}. سورة الأحزاب الآية ٢١.

ژباړه: يقينا شته دي ستاسې لپاره په رسول الله (عليه السلام) کې ښايسته نمونه (د تابعدارۍ) د هغه چا لپاره چې اميد (عقيده) ساتي د الله تعالى او ورځ د آخرت او الله تعالى زيات يادوي.

حاصل مقصد د آيت کريمه همدا دى چې د محمد رسول الله عليه السلام په ذات، سيرت، صورت، سنت، کردار، گفتار کې ستاسې لپاره ښايسته نمونه ده. هغه چا لپاره په الله او ورځ د آخرت ايمان لري. د دنيا او آخرت بريا د همدې ستر لاربشود په اتباع کې ده.

ځکه حافظ ابن کثير وايي: هَذِهِ الْآيَةُ الْكَرِيمَةُ أَصْلٌ كَبِيرٌ فِي التَّأَسِّي بِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي أَقْوَالِهِ وَأَفْعَالِهِ وَأَحْوَالِهِ. تفسير ابن کثير

دا آيت کريمه د رسول الله عليه السلام په احوالو، افعالو او اقوالو کې اقتداء کولو په اړه لوي اصل دى.

د سيرت النبي عليه السلام اهميت هر خاص او عام مسلمان ته ښکاره دى، ځکه کله چې مسلمان سيرت اوري او مطالعه کوي يې ، نو ورځ تر بلې پخپل ژوند کې انقلاب ويني، حال يې د ماضي څخه تغيير خوري، د نبي عليه السلام کوم فعاليت په اړه چې په سيرت کې خبريږي، نو هغه ته عملي جامه ورا اغوندي، چې نتيجه کې انسان ته په دنيا کې پاک، مزيدار او جنتي ژوند ورنصيب کيږي.

بناءً مومن چې سيرت لولي نو پدې کې به مبارک نيتونه کوي، فقط د کيسې په نيت به ترې موقت خوند او لذت نه اخلي، چې د مطالعې په دوران انسان ځان د بدر او احد فاتح او د نبي عليه السلام محافظ ګڼي خو عملي ژوند کې بيا د اسلام نصرت لپاره هيڅ گام نه پورته کوي، بلکې په خپل ژوند کې دانقلاب راوستلو لپاره د سيرت مطالعه پکار ده.

په سيرت کې هر نوعه علم شته، په معاشره کې د ژوند هر اړخ لپاره مثالي نمونه شته، سيرت کې په حيث د يو پلار، په حيث د يو زوى، د گاونډي، يو معلم، يو امام، يو مربي، يو داعي، يو جهادي رهبر او قائد، يو خليفه او په حيث د يو مجاهد ژوند تيرولو اعلى نمونه ليدل کيږي،دا هر څه به مونږ د سيرت څخه زده کوو.

سيرت څخه عقائد او ايمانيات زده کيږي، شرعي سياست، اقتصاد جوړونه، دچريکي عملياتو او هجومي بريدونو فن، اخلاقيات، معاملات، عبادات، معاشيات، کافرو سره عداوت او براءت او مسلمانانو سره ولايت او محبت، دمرتدينو جزا او سزا او مجاهدينو ته مکافات، لنډه دا چې د ژوند هر اړخ که انسان زده کوي، او غواړي چې سل په سله د الله رب العالمين د حکمونو مطابق ژوند تير کړي، نو بايد چې دا سيرت النبي عليه السلام مطالعه کړي.

سيرت هغه مهم علم دى چې په لوستلو يې د انسان زړه د خپل محبوب محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم د مينې څخه ډکيږي، او دغه محبت له امله ايمان کامليږي، نبي عليه السلام فرمايي:

عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «لاَ يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ، حَتَّى أَكُونَ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْ وَالِدِهِ وَوَلَدِهِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ». أخرجه البخاري ومسلم.

په تاسي کې تر هغه يو کس مومن نشي کيداى چې زه ورته د خپل پلار، بچي او د ټولو خلکو څخه محبوب نشم.

يعني په اقتداء، اطاعت او ترک مخالفت کې تر ټولو مقدَم ونه ګڼل شي نو د هغه انسان ايمان ناقص دى. فلهذا سيرت د ايمان د کمال ستر سبب دى.

او د سيرت څخه چې انسان د حب النبي عليه السلام کوم جوهر ترلاسه کوي، هغه له امله د قيامت په سخته ورځ د الله عزوجل د عذاب څخه نجات مومي.

عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ السَّاعَةِ، فَقَالَ: مَتَى السَّاعَةُ؟ قَالَ: «وَمَاذَا أَعْدَدْتَ لَهَا». قَالَ: لاَ شَيْءَ، إِلَّا أَنِّي أُحِبُّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: «أَنْتَ مَعَ مَنْ أَحْبَبْتَ». قَالَ أَنَسٌ: فَمَا فَرِحْنَا بِشَيْءٍ، فَرَحَنَا بِقَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَنْتَ مَعَ مَنْ أَحْبَبْتَ» قَالَ أَنَسٌ: «فَأَنَا أُحِبُّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبَا بَكْرٍ، وَعُمَرَ، وَأَرْجُو أَنْ أَكُونَ مَعَهُمْ بِحُبِّي إِيَّاهُمْ، وَإِنْ لَمْ أَعْمَلْ بِمِثْلِ أَعْمَالِهِمْ» أخرجه البخاري ومسلم.

ژباړه: انس رضي الله عنه وايي يو کس د نبي عليه السلام څخه د قيامت په اړه وپوښتل، وايي: قيامت کله دى؟

هغه ورته وفرمايل: څه دي ورته تيار کړي دي؟

هغه وويل: هيڅ څه هم نه (لرم)، مگر زه الله او د هغه رسول عليه السلام

سره مینه لرم ، نبي علیه السلام ورته وفرمایل: ته به د هغه چا سره وی چې مینه ورسره لرې ، انس رضي الله عنه وایي مونږ د نبي علیه السلام ددې وینا : چې ته به د هغه چا سره وی چې مینه ورسره لرې، څخه په بله خبره زیات نه خوشحالیدو، انس وفرمایل: ځکه زه نبي علیه السلام، ابوبکر او عمر رضي الله عنهما سره مینه لرم او دا امید لرم چې هغوی سره د میني له امله به د هغو ملګری (یوځای) شم، اګر که د هغوی په شان اعمال مي ندي کړي.

دغه شان سیرت هغه مبارک فن دی چې ددې په واسطه انسان دا حقیقت درک کوي، چې نبي علیه السلام د خپل امت لپاره څه کړي دي ؟ ددنیاوي او أخروي عذابونو څخه د امت دنجات په پار به کله توله شپه د رب په دربار کې ولاړ و، د سجدي ځای به یې د ډیرو اوښکو له امله لوند شو، جبریل علیه السلام به له آسمانه راغی ، ورته به یې وویل :چې ستا رب وایي اې محمده علیه السلام څه غواړې، ولې دومره ژړا کوې ؟

په جواب کې مشفق نبي وایي: أمتي أمتي، الله أکبر، کله د همدې امت په خاطر غزاګانو ته ځي، پخپل مبارک وجود د بدبخته کفارو درانه ګزارونه زغمي، چې سبا دا امت توحید څخه محروم نشي او چیرته د جهنم مستحق ونه ګرځي، کله یې ددې امت په خاطر په کراتو د رب دربار ته په کمال حیاء سره ورتګ کړی ، چې دا عبادات راته کم کړه، کله یې د یو عبادت څخه کور کې ځان بند کړي چې چیرته په امت مې فرض نشي، حتی د منافقانو په جنازو یې هم آسره نده کړې خو رب العالمین چې منعه کړې، نو بیا یې اطاعت کړي.

دغه رنګ دا حقیقت هم انسان په سیرت کې درک کوي چې رب العالمین دومره لوړ مقام دې د انسانیت لاربشود ته ولې وربښلې ؟

ولې یې امام الأنبیاء، سید الأولین والآخرین او سیدُ وُلْدِ آدم یوم القیمه ګرځولې دی ؟

د شفاعت کبری مستحق ولې ګرځیدلی او مقام محمود په وياړ ولې مشرف شوی ؟

ددې وياړونو لاملونه او اعمالو ننداره په سیرت کې کولای شو.

په سیرت النبي علیه السلام کې د ژوند د مشکلاتو، کړاوونو، غمونو او تکلیفونو څخه د نجات غوره بیلګه ده، د انسان مربوط هر نوعه دیني، دنیاوي او أخروي مسائلو حل ښودل شوی، ځکه نبي علیه السلام د بشریت تقاضاؤ موافق په هر حالت کې یې قولاً او عملاً بهترینه نمونه بیان کړې او وړاندې کړې ده ، لکه د سختۍ او پراخۍ په مهال تعامل ، د قید او بند په مهال تعامل د زخم او د ملګرو د شهادتونو پرمهال د زغم او صبر بیلګې، د سفر او حضر، جهاد او هجرت، تجارت او حج، صحت او عافیت او د انسانیت هر حالت په أحسنه توګه عکاسي شوې ده. او نور اهمیت او فوائدو بیان یې د دې عاجز بنده له توانه بهر دی، خو په همدې کرښو اکتفاء کوي.

بیا دې پخوانیو کتابونو کې سیرت څخه په المغازي سره تعبیر کیږي، چې دا لفظ د غزوې څخه اخستل شوې دی، او غزوه د قتال او جهاد څخه عبارت ده، نو علت ددغه اسم دا دې چې د نبي علیه السلام سیرت باندې دعوتي او خصوصا جهادي رنګ زیات غالبه و ځکه یې د ټولو اعمالو، افعالو او اقوالو څخه په مغازي سره تعبیر وکړ.

ځکه مونږ ویلې شو چې د نبي علیه السلام سیرت غزا او غزا ده، د رب ددین څخه د قربانیدو او فدا کیدو د لارو، طریقو بیان او عملي درس دی.

بیا دا د سیرت موضوع داسې بحر ده چې غاړه نه لري، علماؤ پرې لیکنې هم کړي، بیانات یې پرې هم کړي، خو د هر درس خپل امتیاز وي، د هر مُقرر خپل اهداف او نقطې وي، د هغې شاوخوا څرخي.

مونږ هم دې سیرت کې څه مقاصد ذهن کې نیولي، خو دوه مهم اهداف مو دا دي:

١.دا یقیني ده چې سیرت زیات بیان شوی، تصانیف او دروس یې بې شمیره دي، خو اکثره بې سنده دي، انسان پرې باور نشي کولای، قوي استدلال پرې نشي کولای، ډیر ځل به یو کس د سیرت څخه دلیل نیولې وي، لویه مسئله به یې پرې بناء کړې وي خو دغه واقعه به کمزورې وي، نو مونږ حتی الوسع کوشش کړی چې علماؤ کوم سیرت صحیح سند سره ذکر کړی، فقط هماغه سیرت بیان کړو، ددې لپاره که څوک پرې خپل ژوند جوړوي، دلیل ترې نیسي نو ثابت سیرت باندې به یې جوړوي. خو دې سره د سیرت لړۍ زیاته مختصر کیږي، ځکه بې سنده او کمزوري او مراسیل روایات په سیرت کې زیات دي، ځکه خو امام احمد وایي چې سیرت په اړه اکثره کتابونه بې اساسه دي. نو ان شاء الله مونږ به حتی الامکان د صحت خیال ساتو، ځکه دا دین دی او بې سنده خبرې دین نشي کیدای.

٢.زمونږ اراده به دا وي چې خپل اولس، ملت او معاشره د ننني مشکلاتو، جهالتونو، شرکیاتو او د بدعاتو له تیارو څخه د نبوي ډیوې په واسطه رڼا ته راوباسو. د اسلام تجدید ورسره وشي، ځوانان د دین دفاع ته وهڅیږي، او هر مسلمان نارینه او ښځینه خپلو مسؤولیتونو ته متوجې شي.

نو دویم مقصد زمونږ به دا وي چې مسلمانانو ته په مختصره توګه د اسلام کامل، حقیقي او روڼ تصویر وړاندې کړو، د غلامۍ څخه د آزادۍ تصور ورکړو، د مکي ژوند څخه مدني تمکین په لوري ګامونه واخلو، د حالات حاضره او نبوي سیرت تطبیق وکړو ان شاء الله. بیا کله به مونږ دې مقاصدو ته رسیږو او بعضې ځایونو کې به د بشري ضعف له امله پاتې هم راځو خو په مجموعي ډول د الله متعال ذات څخه توفیق غواړو.

د نبي عليه السلام نبوت

د نبي عليه السلام نبوت د هغه وخت راهيسې مقرر و چې آدم عليه السلام لا وجود ته نه و راغلی.

عَنْ مَيْسَرَةَ الْفَجْرِ، قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ، مَتَى كُتِبْتَ نَبِيًّا؟ قَالَ: " وآدَمُ بَيْنَ الرُّوحِ وَالْجَسَدِ". مسند أحمد والمستدرك للحاكم، وسنده صحيح.

ژباړه: ميسره رضي الله عنه څخه روايت دی چې ما وويل: اې د الله رسوله ! ته له کوم وخت راهيسې نبي (مقرر شوي) يې ؟ هغه راته وفرمايل: (زه د هغه وخت راهيسې نبي يم) چې آدم عليه السلام د روح او جسد ترمنځ و.

عَنْ خَالِدِ بْنِ مَعْدَانَ، عَنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُمْ قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَخْبِرْنَا عَنْ نَفْسِكَ، فَقَالَ: «دَعْوَةُ أَبِي إِبْرَاهِيمَ، وَبُشْرَى عِيسَى، وَرَأَتْ أُمِّي حِينَ حَمَلَتْ بِي أَنَّهُ خَرَجَ مِنْهَا نُورٌ أَضَاءَتْ لَهُ بُصْرَى وَبُصْرَى مِنْ أَرْضِ الشَّامِ».

المستدرك للحاكم، ومسند أحمد. وسنده حسن.

ژباړه: صحابه وو نبي عليه السلام ته وويل: چې اې د الله رسوله، موږ ته د خپل ځان په اړه خبر راکړه. هغه وفرمايل: زه د خپل پلار ابراهيم عليه السلام دعا يم، او د عيسى عليه السلام زيرى يم، او کله چې زما مور په ما باندې حامله وه نو خوب يې وليده، چې دهغې جسم څخه يوه رڼا ووتله او ددغه رڼا له امله بُصرى منطقې، د شام ځمکې (محلات) روښانه شول.

د غوره نسب خاوند نبي

د نبي عليه السلام نسب په انسانانو کې تر ټولو غوره نسب دی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «بُعِثْتُ مِنْ خَيْرِ قُرُونِ بَنِي آدَمَ، قَرْنًا فَقَرْنًا، حَتَّى كُنْتُ مِنَ القَرْنِ الَّذِي كُنْتُ فِيهِ» أخرجه البخاري.

ژباړه: زه د آدم عليه السلام په غوره اولادونو کې د يوې پيړۍ څخه بلې ته منتقل کيدم تر دې پورې چې زه

يدې پيړۍ کې مبعوث شوم چې اوس يکې موجود يم.

عَن وَاثِلَةَ بْنِ الْأَسْقَعِ، يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللّهِ صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «إِنَّ اللّهَ اصْطَفَى كِنَانَةَ مِنْ وَلَدِ إِسْمَاعِيلَ، وَاصْطَفَى قُرَيْشًا مِنْ كِنَانَةَ، وَاصْطَفَى مِنْ قُرَيْشٍ بَنِي هَاشِمٍ، وَاصْطَفَانِي مِنْ بَنِي هَاشِمٍ» أخرجه مسلم.

واثله وايي چې ما د نبي عليه السلام څخه اوريدلي دي هغه فرمايلې: يقينا الله تعالى د اسماعيل عليه السلام په اولاد کې کنانه غوره کړې و، او د کنانه څخه يې قريش منتخب کړې و، او د قريشو څخه يې بنوهاشم منتخب کړي و، او د بنو هاشمو څخه يې زه غوره کړم.

او صحيح البخاري کې حديث د هرقل کې هم راځي، هرقل پوښتنه کوي:

كيف نَسَبُ هذا الرجُلِ فيكُم؛ قلتُ: هو فينا ذو نَسَبٍ. صحيح البخاري.

ددې سړي (نبي عليه السلام) نسب په تاسې کې څنګه دى ؟ ما ورته وويل: چې هغه په مونږ کې د لوړ نسب والا دى.

بيا د نبي عليه السلام نسب په درې برخو ويشل شوى دى.

اول: د نبي عليه السلام څخه عدنان پورې.

دويم: د عدنان څخه اسماعيل او ابراهيم عليهما السلام پورې.

دريم: د ابراهيم عليه السلام نه آدم عليه السلام پورې.

امام بخاري په خپل صحيح کې د نبي عليه السلام نسب داسې بيان کړې:

محمدِ بنِ عبدِ اللهِ بنِ عبدِ المطلبِ بنِ هاشمِ بنِ عبدِ منافِ بنِ قُصَيِّ بنِ كِلابِ بنِ مُرَّةَ بنِ كعبِ بنِ لُؤَيِّ بنِ غالبِ بنِ فِهْرِ ابن مالكِ بنِ النَّضْرِ بنِ كِنانةَ بنِ خُزَيْمَةَ بنِ مُدْرِكَةَ بنِ إلياسِ بنِ مضرَ بنِ نزارِ بنِ مَعَدِّ ابن عَدْنانَ.

[صحيح البخاري، باب مبعث النبي صلى الله عليه وسلم]

حافظ ذهبي د نبي عليه السلام نسب په اړه په (تاريخ الاسلام ط التوفيقيه ج ١/ ص ١٩) کې وايي چې دا په اجماع سره صحيح ثابت دى. او ددې څخه پورته د پلارانو نومونو کې اختلاف دى.

حافظ ابن كثير په "البداية" "ج 1/ ص 684" کې د نبي عليه السلام نسب تر عدنان پورې ذکر کړى بيا وايي: چې دې سلسله د نسب کې د علماؤ هيڅ اختلاف نشته. او حافظ ابن حجر په "فتح الباري" "ج 6/ ص 611" کې وايي: د نبي عليه السلام څخه تر عدنان پورې نسب باندې اتفاق کړې شوى دى. او حافظ ابن القيم هم په زاد المعاد کې داسې خبره کړېده.

لهذا مونږ هم دا اتفاقي نسب راوخسته او اختلافي مو پرېښود.

د نبي عليه السلام خاندان:

د نبي عليه السلام په خاندان کې ټول مشران په قريشو کې مخور وو، خو قُصي، هاشم او بيا عبد المطلب ډېر زيات شهرت وموند، په ځانګړې ډول عبد المطلب ته ځينې داسې ظاهري شرف ورپه برخه شو، چې ټول خپلوان او ترېوران ورته ګوته په غاښ پاتې شو، او دا ټول د نبي عليه السلام لپاره زمينه سازي وه.

البداية والنهاية، سيرت دابن هشام او دلائل النبوة هم حسن سند سره دا روايت راوړى، چې د زمزم څاه د کنستلو واقعې په ترڅ کې د عبد المطلب فضيلت په نورو څرګند شو. دا واقعه علي رضي الله عنه بيان کړې ده، او علماء وايي چې ظاهره ده چې خپلو مشرانو څخه يې اوريدلي وه، راځئ چې د هغه له خوله يې واورو:

عن عَلِيَّ بْنَ أَبي طَالِبٍ يُحَدِّثُ حَدِيثَ زَمْزَمَ حِينَ أُمِرَ عَبْدُ الْمُطَّلِبِ بِحَفْرِهَا. قَالَ قَالَ عَبْدُ الْمُطَّلِبِ إِنِّي لَنَائِمٌ فِي الْحِجْرِ إِذْ أَتَانِي آتٍ فَقَالَ لِي احْفِرْ طِيبَةَ. قَالَ قُلْتُ وَمَا طِيبَةُ؟ قَالَ ثم ذهب عني.

علي رضي الله عنه د زمزم (څاه) واقعه بيانوي، کله چې عبد المطلب ته ددغه څاه کنستلو امر وشو. وايي عبد المطلب وويل: زه د حجر اسود په خوا کې ويده وم، خوب کې راته يو کس راغى او راته يې وويل: طيبه (پاکه څاه) وکنه. وايي ما ورته وويل طيبه څه شى دى ؟ وايي بيا رانه هغه لاړ.

قال فَلَمَّا كَانَ الْغَدُ رَجَعْتُ إِلَى مَضْجَعِي فَنِمْتُ فَجَاءَنِي فَقَالَ احْفِرْ بَرَّةَ. قَالَ قُلْتُ وَمَا بَرَّةُ؟ قَالَ ثُمَّ ذَهَبَ عَنِّي فَلَمَّا كَانَ الغد رجعت إلى مضجعي فنمت فجاءني فقال احفر الْمَضْنُونَةَ قَالَ قُلْتُ وَمَا الْمَضْنُونَةُ؟ قَالَ ثُمَّ ذَهَبَ عَنِّي فَلَمَّا كَانَ الْغَدُ رَجَعْتُ إِلَى مضجعي فنمت فيه فجاءني فقال احْفِرْ زَمْزَمَ. قَالَ قُلْتُ وَمَا زَمْزَمُ؟ قَالَ: لا تنزف أبدا ولا تزم، تَسْقِي الْحَجِيجَ الْأَعْظَمَ، وَهِيَ بَيْنَ الْفَرْثِ وَالدَّمِ، عِنْدَ نُقْرَةِ الْغُرَابِ الْأَعْصَمِ، عِنْدَ قَرْيَةِ النَّمْلِ.

وايي سبا بيا زه هلته (حجر اسود خواته) لاړم او ويده شوم، نو يو کس راغى او راته يې وويل: برّه (خير والا څاه) وکنه، ما ورته وويل بره څه ته وايي ؟ وايي هغه هم راڅخه ولاړ، نو کله چې بل سبا شو، زه بيا خپل د ويده کيدو ځاى ته لاړم او ويده شوم، نو يو کس راته (خوب کې) راغى او ويې ويل: مضنونه (قيمتي څاه) وکنه، وايي ما ورته وويل: مضنونه څه ته وايي ؟ وايي هغه هم راڅخه لاړ، نو کله چې بل سبا شو، زه بيا خپل دخملاستو ځاى ته لاړم او هلته ويده شوم، نو يو کس راغى او راته يې وويل: زمزم څاه وکنه، ما ورته وويل: زمزم څه شى دى ؟ هغه راته وويل:

دا (زمزم څاه) به نه وچيږي او نه به يې اوبه لاندې ځي، ډېر حاجيان به ددې څخه اوبه څښي، او ددې څاه (نښه)دا ده چې د خوشيانو او وينې ترمنځ (ځاى کې) ده، هغه ځاى چې د کارغه د ټونګې وهلو ځاى دى، (او) په خوا د ميږانو کلي کې (دا څاه) ده.

دوام لري ... ان شاءالله .

د سیرت درسونو ته پوځي کتنه !

۱

د کورنۍ جنګ ګواښ او اقتصادي بندیزونه

نبي ﷺ په مکه کې ۱۳ کلونه د الله عزوجل توحید ته خلک راوبلل، په دې موده کې نبي ﷺ کومه وسله نه استعمالوله، خو بل لور ته قریشو د اسلام سره د مبارزې لپاره له هر ډول تکتیکونو کار اخیست، ټولې لارې یې آزمویلې او ټول وسایل یې په کار اچولي وو؛ تر څو پرې د اسلام مخه ډب کړي، دوی به کله خلک ګواښل، کله به یې اقتصادي پابندۍ ولګولې او کله به یې مسلمانان ربړول، خلاصه دا چې له جنګ پرته نورې ټولې لارې یې استعمال کړې .

د مشرکو قریشو د رهبرۍ شورا په لومړیو کې د دغه عزتمند دعوت په خلاف خپلې رسنۍ په کار واچولې، تر څو د اسلام نوم بدنام کړي او د خلکو غوږونو ته د دې مبارک دعوت غږ ونه رسیږي، بیعقلان یې راجمع کړل او شاعران یې وکارول] کوم چې په هغه وخت کې د کفارو رسنیز کارمندان وو ،[دوی د نبي ﷺ پر ضد د ټوکو ټکالو او ملنډو حملې په لار واچولې، په لومړیو کې دغه رسنیز جنګ خورا بریالی شو او ډیری خلک به د نبي ﷺ خواته نه راتلل او ترې جدا به ګرځېدل .

ابن هشام وایي :یو له سختو ورځو چې نبي ﷺ د قریشو له سختیو سره مخ وو دا وه :یوه ورځ نبي ﷺ بیرون ووت، هر څوک به چې ور سره مخامخ شول، که به آزاد و، یا غلام رسول الله صلی الله علیه وسلم ته به یې بد رد ویل، دروغژن به یې ګاڼه او تکلیف به یې ورته رساوه، هغه خپل کور ته واپس شو، ډیر غمجن و، له

ډير تکليف يې چې ورته رسېدلی و؛ ځان په کمپل کې تاو کړ، الله تعالی پرې دا آيتونه نازل کړل: [يَاأَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ قُمْ فَأَنذِرْ] {المدثر: ۲،۱[
ژباړه: ای(په جامه کې)ځان نغښتونکي، ځملاستونکيه پاڅه !او خلکو ته ويره ورکړه.
که د قريشو له لوري د بهرنيو وګړو د مخنيوي په اړه د تبليغاتو په ډګر رڼا واچوو، نو وبه ګورو چې دوی به دا مبارزه په ډله ييز او ګروپي شکل مخته وړه، د بدنامونکو او رنګ بدونکو تشکيلونه به يې جوړول، د دغو تشکيلونو له ډلې چې د مشرکو قريشو د رهبری شورا به جوړول، مهم به يې د حج موسم په رانږدې کېدو سره وو، دوی به په ډله ايیز شکل د نبي ﷺ د خبرو په باره کې د خلکو ذهنونه ګډوډول، شکونه به يې ورته غورځول او له مخکې به يې کوښښ کاوه چې د هغوی ذهن سازي وکړي او له نبي صلى الله عليه وسلم يې واړوي.
د حج له موسم مخکې د قريشو مشران د هغوی په پارلمان (دارالندوه) کې د مشورې لپاره راوبلل شول، غونډه شروع شوه، مذاکرات پيل شول، ټول منتظر و چې فيصله به په څه کېږي، وليد بن مغيره پورته شو او وېې ويل:
ای د قريشو ټوليه !د حج موسم را نږدې دی، تاسې ته بهتره معلومه ده چې له عربو به ډلې ،ډلې خلک د حج لپاره راځي، د ټولو ملګرو نظرونه تاسې واوريدل، اوس په دې کې په يو نظر متفق شئ، اختلاف مه کوئ، ځکه چې سبا بيا د يو بل د خبرو تکذيب ونه کړئ او د يو بل خبرې رد نه کړئ!
د شورا غړو وويل: يوه رايه انتخاب کړه، چې ټول هماغه خبره وکړو.
وليد وويل: نه، بلکې تاسې وواياست!
د شورا يو غړي وويل: وبه وايو چې کاهن دی.
وليد وويل: نه قسم په الله، مونږ کاهنان ليدلي دي، د ده خبرې د کاهنانو زمزمې او قافيې نه دي.
د شورا غړو وويل: وبه وايو چې ليونی دی.
وليد وويل: دا ليونی نه دی، مونږ ليوني ليدلي او پېژنو يې!
د شورا غړو وويل: وبه وايو چې شاعر دی.
وليد وويل: دا شاعر نه دی، مونږ د شعر هر ډول پېژنو!
د شورا غړو وويل: وبه وايو چې جادوګر دی.
وليد وويل: نه، دا ساحر نه دی، ځکه مونږ جادوګر او د هغوی جادو ليدلی دی.
د شورا غړو وويل: ای عبد شمسه !آخر څه ووايو؟
وليد وويل: قسم په الله، دده خبرې خوږې دي، بېخونه يې مزيدار او څانګې يې له ميوو ډکې دي.
بيا وليد وويل: ښه خبره داده چې ووايو: دا جادوګر دی او جادو يې دومره قوي دی چې پلار له ځوی، ورور له ورور، ښځه له خاوند او سړی له قبيلې جلا کوي.
ټولو په دې رايه اتفاق وکړ او د تطبيق چارې يې پيل شوې ...
قريشو ډلګې جوړ کړل او دنده يې ورته وسپارله چې حج ته د راتلونکو کسانو په ټولو لارو کې کېنيني او د نبي ﷺ د کار او خبرو څخه يې خبر کړي.
د دغو ټولو کارونو په لومړي سر کې له بريا سره، سره بيا هم قريش د نبي ﷺ د دعوت په مخنيوي کې پاتې راغلل، ځکه قريشو کوښښ کاوه چې د مکې دننه د نبي ﷺ د دعوت مخه ډب کړي او د زياتېدو مخه يې ونيسي؛ خو نبي ﷺ وتوانېد دعوت د قريشو له ساحې بيرون بېلا بېلو قبايلو او د حاجيانو وفدونو ته ورسوي، ځکه په دې وخت کې هر چا د بُتانو عبادت کاوه، نبي ﷺ به ورته په خورا بليغه ژبه خپل دعوت وړاندې کاوه، اهداف به يې ورته روښانه کول او د اسلام دين ته د غاړې اېښودلو لپاره به يې رابلل.
ابن اسحاق فرمايي: د قريشو ډلګيو به د راتلونکو حاجيانو هر وفد ته د رسول الله ﷺ په باره کې خبرې کولې، تر څو ترې ځان وساتي، دا کار ددې باعث شو چې د رسول الله ذکر به ټولو عربو کې خپور شي.
په نبي ﷺ او د هغه په ملګرو د دغه سخت رسنيز

جنګ په سیوري کې بیا هم نبي ﷺ کلک ولاړ و، صبر یې کاوه او د ثواب په نیت به یې خپل دعوت ته دوام ورکاوه، دعوت یې زیات خپور شو، د دین پیروان یې هم ورځ تر بلې زیاتېدل او بل پلو د قریشو خفګان هم ډېریده .

د نبي ﷺ پر ضد د قریشو د منظم پلان شوي رسنیز جنګ له ماتې وروسته، هغوی پوه شول چې نبي ﷺ دعوت نه پرېږدي، ویې ویل :که نبي د دوی د معبودانو له بد ویلو او له هغوی څخه د خلکو د راګرځولو څخه لاس وانخلي نو دوی به جګړه وکړي .

د نبي ﷺ تره ابوطالب ته یې پلاوی ولېږه، تر څو د ده د وراره له لورې دوی ته د راولاړو شویو ستونزو څخه یې خبر کړي او هغه ته یې اخطار ورکړ که خپل وراره له دعوت څخه بند نه کړي؛ نو د کورنیو جګړو لمبې به بلې شي .

مګر نبي ﷺ په خپل دعوت کلک ودرید، تره یې د بني هاشم او بني مطلب مشران راوبلل او ورته یې وویل: چې دا دریځ لوی خطر لري، مونږ او تاسې ټول باید د نبي ﷺ د ساتنې لپاره ودریږو، د بني طالب او بني هاشم ټولو مشرانو مسلمان او کافر یې خبره ومنله، مګر ابولهب ونه منله او دوی سره په دې کار کې یوځای نه شو .

قریشو د کورنۍ جګړې فکرونه وهل، خو ماهرینو او عقلمندو ته د ټولو قبیلو په منځ کې د بني هاشم او بني مطلب قدر او درجه معلومه وه، له همدې وجې یې د پریکون په جګړې لاس پورې کړ، چې ضرر یې له یوې خونړۍ جګړې څخه کم نه دی، دوی په دواړو قبیلو اقتصادي بندیزونه ولګول او د قریشو له ټولنې یې د دوی د مکمل جلا کیدو او د دوی د کلابندۍ پلان جوړ کړ، خو مخکې له دې چې دا پلان پلی شي، قریشو فکر وکړ، چې راځئ په یوازې توګه به له نبي ﷺ سره یوه سودا وکړي، د قریشو مشرانو عتبه بن الربیع د خپل استازي په ډول نبي علیه السلام ته واستاوه، تر څو ورسره سودا وکړي، چې هغه به له دعوت څخه چوپ کېږي، که په بدل کې یې هر څه غواړي، قریش به یې ورکوي .

عتبه نبي صلی الله علیه وسلم ته وویل :

ای وراره !ته زمونږ له ډلې یې، ډیر لوړ نسب لرې، خو باور وکړه تا دي قوم ته داسې خبره راوړې چې د دوی جماعت دي پرې درې ورې کړ، د دوی عقلمند دې بیعقلان کړل، د دوی دین او معبودانو پسې دې بدي وویله او په دې خبره دې د دوی تېر شوي پلرونه کافر کړل، غوږ کېږده، زه درته ځینې وړاندیزونه کوم، ویې ګوره چې هر یو دې خوښ شو، ویې منه !

نبي ﷺ وویل :ای د ولید پلاره !وایه، اورم یې !

عتبه وویل :ای وراره !که چیرته ته په دې کار سره مال راجمع کول غواړې، نو مونږ به تاته ډیر مال راجمعه کړو، تر دې چې له مونږ ټولو به ستا مالونه ډیر وي .

که چیرته په دې کار سره عزت غواړې، نو مونږبه تا خپل مشر وټاکو او له تا پرته به هیڅ کار نه کوو .

که چیرته په دې کار سره بادشاهي غواړې، نو مونږ به تا خپل بادشاه مقرر کړو او که چیرته در باندې کوم جادو شوی وي او یا مریض یې، مونږ به درته ډاکټرراوغواړو او ستا د روغتیا لپاره به ټول مالونه خرچ کړو، تر دې چې ته روغتیا ومومې او جوړ شې .

کله یې چې خبرې خلاصې کړې، نبي ﷺ ورته وفرمایل:

د ولید پلاره !خبرې دې خلاصې شوې؟

هغه وویل :هو !

نبي ﷺ ورته وفرمایل :له ما نه واوره !

هغه وویل :سمه ده، کوم یې !

نبي ﷺ وویل :حم * تنزیل من الرحمن الرحیم * کتاب فصلت آیاته قرآنا عربیا لقوم یعلمون * بشیرا ونذیرا فأعرض أکثرهم فهم لا یسمعون ...نبي ﷺ تلاوت ته ادامه ورکړه، عتبه ورته په پوره توجه غوږ نیولی و، کله چې نبي ﷺ سجدې ته ورسید، تلاوت یې بس کړ، الله تعالی ته یې سجده وکړه او بیا یې عتبه ته وویل:



ای ابوالولیده !تا چې څه واوریدل، هغه دې واوریدل نور .ته پوه شه او کار دې .

د نبي ﷺ له خبرې وروسته عتبه پورته شو، خو مخ کې یې د قرآن د بلاغت او نا اشنا انداز کیفیت له ورایه معلومېده، قوم ته واپس شو، خو د نبي ﷺ او د هغه د دعوت په اړه یې خپله رایه او دریځ بدل شوی و .

د قریشو مشرانو د عتبه په مخ کې د بدلون نښې وپېژندې، یو بل ته یې وویل :ابوالولید چې په کوم مخ سره تللی و، په هغې سره بېرته نه دی راغلی .

عتبه د قوم له مخورو، عقلمندو او راجحه رایو والا څخه وو، په لرې نظر، ښکلي سیاست او زغرده خبرو کې مشهور و؛ کله چې د قریشو له مشرانو سره کښېناست، هغوی ورته وویل :ابوالولیده !څه خبر دې راوړ؟

هغه وویل :ما داسې خبرې اوریدلي، چې هیڅکله مې نه وې اوریدلې، قسم په الله دا نه شعر دی، نه جادو دی او نه هم کوډې منترې دي.

بیا یې قریشو ته د خیرخواهۍ په ډول وویل :

ای د قریشو ټولیه !زما خبره ومنئ، که مو تاوان وکړ، زه به جریمه درکړم، د دغه سړي او نورو عربو له منځ څخه ووځئ، دا عربو ته یوازې پرېږدئ، کومې خبرې چې ترې ما واوریدې دا به ډېرې لویې شي، که نور عربان یې ختم کړي، نو ستاسې پرځای به نورو دا کار کړي وي .او که چیرته دا په نورو عربو برلاسی شو، نو د ده بادشاهي ستاسې بادشاهي ده، د ده عزت ستاسې عزت دی او تاسې به بیا له ټولو خلکو زیات پر ده خوشال یاست!

قریشو وویل :ای ابوالولیده !په خپله ژبه یې پر تا هم جادو وکړ .

عتبه وویل :دا زما نظر دی، نور چې تاسې ته څنګه ښه ښکاري، هماغه شان وکړئ .

کله چې د سودا معامله ناکامه شوه، قریشو د اقتصادي بندیزونو د پلان په عملي کولو پیل وکړ ...

دوام لري ... ان شاءالله.

تور مار

د امر صيب له لورې په راسپارل شوي کار بوخت وم، په کړکۍ کې د اېښې مخابرې شور به مې کله، کله توجو وراړوله، شېبه پس په مخابره کې زما په نامه څو پرلاپسې غږونه مې تر غوږه شول، قلم مې په صفحه کېښود، ورولاړ شوم، مخابره مې راواخسته، اسد الله استاد و، خپل نمبر ته لاړو، له سلام کلامه وروسته يې په شفر پوهه کړم چې د انجنير صيب ځای کې درته منتظر يم ته او حمزه استاد راشئ.

استاد به څه وايي ؟

کوم ضرور کار به يې پيدا شوې وي ؟

د مخابرې انتن مې بشکته کړ، جېب ته مې کړه، او د همدې پوښتنو سره مل له کوره روان شوم.

په دې شپو ورځو کې امريکايي ډرون او څارګرو الوتکو هم د يو ستر هدف لپاره شپه او ورځ يوه کړې وه، د وريو خړ څادر کې مې نور هم ځان راونغښت، په ټوله لار مې همدا شېبې شميرلې چې اوس به ګذار کوي او اوس به يې کوي.

اخر هم د حمزه استاد کور ته ورسيدم، هغه مې له ځانه سره کړ د انجينر کور ته په رسېدو کې مو ځنډ ونه کړ، هغه تيار په دروازه کې منتظر ولاړ و، غلي يې دويم پوړ ته پورته کړو.

اسد الله استاد او ورسره بل عالم ملګرې زموږ په ليدو د شنو چايو له نيمايې شويو پيالو راپورته شول، له روغبړه وروسته موږ ته هم پيالې ډکې شوې، انجينر په خندا د وچو سمترو (پلميټو) غاب رانيږدې کړ، استاد لومړې خپل لاسي سات ته وکتل، د ماذيګر لمانځه ته لا وخت و،بيا يې جيب ته لاس کړ،ليک يې له جيبه راوويست، په خندا يې ماته په مانادار نظر راوکتل، په خط مې د ديوان الجند په مهر سترګې ونښتې، استاد ليک راکړ لنډ يې ليکلې و:

لنډه کيسه

دمعسکراتو مسؤل استاد اسدالله حفظه الله

السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته.

کامل صحت دې رب نه غواړم ،اميد لرم چې خپلو کارونو کې به بريالي روان ياست، ستا په اداره کې مو دوه کسان پکار دي ،چې د دوشنبې په ورځ حتما ځپري کې ما سره وګوري.

والسلام اخوکم سيف الله ارهابي.

د دوه کسانو په نومونو کې د استاد حمزه ترځنګ دويم نوم زما و، ليک مې ولوست اسدالله استاد ته مې وکتل : الله به خير کړي خو لکه چې ارهابي امر صيب زموږ په ترتيب مکمل نه دی پوهه که څنګه ؟

اوس نو دادی د معسکر دوه دورې نقدې تيارې دي، الله دې دا طالب مشرکين هلاک کړي د دوی سترو بريدونو ته د زمينه سازۍ لپاره نو د دوی بادارانو څه حال جوړ کړی، د نورو مجاهدينو ترځنګ زيات استادان هم شهيدان شول، يو معاويه استاد و، هغه هم تيره ورځ ډرون وويشت الله دې قبول کړي، خو لکه چې امير صيب کوم د جنګ پلان لري ،ممکن د بريد وخت نيږدې وي، په هر صورت ورتلل ضرور دي، چې مخکې ليدل کتل وشي خه ده، هسې نه موږ ته يې ډيره تمه وي او بيا تړلې جنګ کې نقشه تغيرول هم په تاوان تماميږي، ځکه موږ

ځان کې څه نه وينو.

اسدالله استاد پوخ پرلت وهلی دروند ناست و، زما خبرې يې په سره سينه ځواب کړې: هو ليدل يې پکار دي ،تاسې ورشئ له نيږدې يې وګورئ الله به خير کړي ، ټولې خبرې ورسره شريکې کړئ .

له استاد څخه مو رخصت واخست ، هغه د چا خبره ډرونونو سمه خوله لګوله ، خو موږ په اطاعت مکلف و، له ابراهيم خيلو څخه مخ په توحيد اباد وخوځيدو ، په ټوله لاره مو له ډرونونو څخه پټ پټانی کاوه ، اخر هم په ډيره مشکله توحيد اباد ته ورسيدو ، شپه مو وکړه او غوښتل مو سهار وختي حرکت وکړو ، خو ډرونونو مو په سفر کې ځنډ راوست ناوخته روان شو ، ځپرې ته ورسيدو ، د فتحې کتيبې د ملګرو يو مرکز ته لاړو، د لمانځه نه مخکې مو د امير صيب کتلو ته تلوسه وه، ملګرو ويل همدلته دی ، موږ ورته کره : ورته ووايې تاجې د معسکر کوم استادان غوښتې و هغه رارسيدلي ، اميرصيب ارهابي چې له نهايت عاجزۍ او محبت څخه ډک انسان و، د ژوند د عجيب او غريب داستان مختلف ارخونه يې ډيرو ورونو ته د درس کتابونه دي ، بلاخره امير صيب له لمانځه مخکې چې خبر شو نو خپله راغې جمعه يې راکړه د لمانځه څخه وروسته يو عالم ملګري د خپل تقسيم اوقات له مخې درس هم وکړ.

د خراسان امير الحرب ارهابي ټولو ملګرو سره يو ځای د مجاهدينو زلمو په لاس پخه شوې لوګو وهلې ډوډۍ او سپيرو لوبياو ته کيناست ، ډوډۍ مو چې وخوړه نو له مرکز څخه ووتلو او بهر د يو دنګ چينار لاندې په زاړه کټ کيناستو، امر صيب په موسکا وويل : ماشآء الله وختي راورسيدئ ، زما خو دومره زر ستاسې د رارسيدو تمه نه وه ، د امر صيب د خبرې په ځواب کې مې جيب ته لاس کړ ، دوه ليکونه چې يو د همدې امرصيب او بل د معسکراتو د مسول ليک و ، يو ځای ارهابي امر صيب ته ونيول ورته مې وويل : امر صيب تاسې دا ليک را استولې و ، نو موږ هم څکه عاجل راغلو چې سره په وخت ځان پوهه کړو .

امرصيب وويل : هو حمزه استاد خو مې ددې لپاره په کار و چې د ملګرو خبرې راته په فارسي کې ترجمه کړي ،څکه جنګ کې ملګري مستقيم رابطه کوي او زه په پښتو پوره نه پوهيږم، او تاته يو ګروپ ملګري حواله کوم ، تر پنځوس پورې کسان دي د يو طرف مستقل جنګ به ته کوې .

